هغوی دتصویرونو برخې / اجزا سره مقایسه کړي او پرې بحث وکړي .

- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب له ۱۰۴ مخ څخه د ۱۰۵ مخ تر لومړي پراګراف (. . . لوی ښکاري .) پورې پر متن کار وشي .
- په دریم پړاو کې دې د زده کوونکو پر ډلو د لوستل شوي متن د یوې ، یوې برخې د املا کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د ۱۰۵ مخ دمتن پاتې برخه ولولي .

۲ـ درسي پلان : ۱۴۶

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې د ۱۰۵ مخ پرتصویرونو بحث وشي .
- په دوهم پړاو کې دې ددرسي کتاب د ۱۰۵ مخ د متن پر پاتې برخه کار وشي .
- په دریم پړاو کې دې د [۱ ــ ۲ درسي پلان : ۱] او [۲ ـ درسي پلان : ۲] د دریم پړاو په شان کار وشي .

۳ـ درسي پلان : ۱۴۷

د تدریس طریقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۰۴ ــ ۱۰۵ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په دریم پړاو کې دې د [۲ ـ درسي پلان : ۲۹] د دریم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه	: ۱۰۶ ــ ۱۰۷
عنوان	: میوې
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب ئې په خپله ژبه وویلای شي .
- تصویرونه تشریح کړای شي .
- جنس نومونه او د نومونوجمع او مفرد وښودلای شي .
- د وچو او تازه میوو د ډولونو او ګټو په باب خپل معلومات او نظرونه ولیکلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۱۴۸

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره زده کوونکو ته د ۱۰۶ مخ تصوير ور وښيي
- په دوهم پړاو کې دې ددرسي کتاب ۱۰۶ مخ تر ډوروستي پراګراف (. . . په ننګرهار کې نه کېږي .) پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د زده کوونکو ډلو ته دنده ورکړل شي چې په لومړي ګام کې د هغو ميوو لست تيار کړي چې د دوی خوښېږي او بيا دې د هرې يوې په مقابل کې د خوښولو دليل هم وليکي .

۲ـ درسي پلان : ۱۴۹

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې د ۱۰۷ مخ د تصوير په باره کې بحث او خبرې وشي .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب ۱۰۶ مخ لـه وروستي پاراګراف (ځينې ميوې تازه . . .) څخه د ۱۰۷ مخ تر پای پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۲ـ درسي پلان : ۹۲] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۳ـ درسي پلان : ۱۵۰

د تدريس طريقه :

- تر چمتو والي وروسته په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۰۶ ـــ ۱۰۷ مخونو پر متن تکرار کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۱۶] او [۲ ـ درسي پلان : ۱۷] د درېم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه : ۱۰۸ ـ ۱۰۹

عنوان : عبدالعلي مستغني

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای شي .
- د کلمو په وړاندې وروسته کولو سره جملې جوړې کړای شي .
- صفتونه اوخاص نومونه وښودلای شي .
- شعر په نثر واړولای شي .
- هېواد د فرهنګي شخصیتونو په باره کې خپل معلومات ولیکلای او وویلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۱۵۱

د تدریس طریقه :

- تر چمتو والي وروسته په دوهم پړاو کې دې له ۱۰۸ مخ څخه د ۱۰۹ مخ د [علم ګوهر] تر عنوان پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۵۶] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې له خپلو مینډو او پلرونو څخه تر معلومات او مشورې اخیستلو وروسته د خپل ژوند لنډه تاریخچه (نوم، د پلار نوم ،استوګنځی ،دزېږیدو نېټه او ځای ، د ماشومتوب مشغولتیاوې ، خاطرې ، احساسات ،د ښوونځي جریان، ستونزې ، اسانتیاوې ، لوبې) ولیکي .

۲ـ درسي پلان : ۱۵۲

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی کورني کارونه ګوري او دوه یا درې زده کوونکي خپلې سوانح بیانوي .
- له چمتووالي څخه وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۱۰۹ مخ پر شعر [علم ګوهر] پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د[۱ ـ درسي پلان : ۳۳] ددرېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د خپلې خوښې د فرهنګي شخصیت په هکله خپل معلومات ولیکي .

۳ـ درسي پلان : ۱۵۳

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی کورنۍ کارونه ګوري او دوه درې زده کوونکي د خپلې خوښې د فرهنګي شخصيتونو په باره کې خپل معلومات وايي .
- په دوهم پړاو کې دې درسي کتاب د ۱۰۸ ـ ۱۰۹ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي د [۱ـ درسي پلان : ۱۱] د درېم پړاو په شان کار وکړي .

د کتاب مخونه	: ۱۱۰ ـ ۱۱۲
عنوان	: ځيرکي
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای و مطلب يې په خپله ژبه وويلای او لنډيز يې وليکلای شي .
- د تصويرونو په باره کې خبرې وکولای شي .
- ليک نښې او د هغو د استعمال ځايونه وښودلای شي .
- ځيرکی او هوښيارۍ په هکله خپلې تجربې بيان کړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۵۴

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې زده کوونکي د [۱۱۰] او [۱۱۱] مخ د تصويرونو په باره کې په ترتيب سره خبرې وکړي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب له ۱۱۰ مخ څخه د ۱۱۱ مخ تر وروستي پاراګراف (. . . ټوله کيسه پاچا ته وکړه .) پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان: ٦۲] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار: زده کوونکي دې د دې په پاره کې چې کـه چيرې دوی په راتلونکي کې واکمنان ، قاضيان، واليان يا ولسوالان شي دوی به کوم کوم کارونه کوي .

عنوان به داسې ليکي : که زه . . . شم

۲ـ درسي پلان : ۱۵۵

د تدريس طريقه :

- ښوونکی کورنۍ کارونه ګوري او دوه درې زده کوونکي خپلې لیکنې لولي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۱۱۱ مخ له وروستي پاراګراف څخه د ۱۱۲ مخ تر پای پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۲ ـ درسي پلان : ۲۰] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې کیسه یاده کړي .

۳ـ درسي پلان : ۱۵۶

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی په څو زده کونکو له یاده په متن کې راغلې کیسه کوي او په څو زده کوونکو د خیرکۍ په هکله د هغوی تجربې بیانوي .
- په دوهم پړاو کې دې درسي کتاب د ۱۱۰ ـ ۱۱۲ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي د کیسې لنډیز یا دغې کیسې ته ورته بله کیسه ولیکي .

د کتاب مخونه	: ۱۱۳
عنوان	: نظم او سمون
د درسونو شمېر	: ۲
هدفونه	: زده کوونکي باید :
	• متن ولوستلای او مطلب یې ووایلای شي .
	• مترادفې کلمې وښودلای شي .
	• د نظم او سمون مفهوم او اهمیت په هکله خپلې تجربې او نظریې ووایلای او ولیکلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۱۵۷

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره یو لړ پوښتنې مطرح کړي ؛ مثلاً : نظم څه ته وایي ؟ ترتیب څه ته وایي ؟ بې نظمي او ګډوډي څه ستونزې پیدا کوي ؟

- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۱۳ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۲ـ درسي پلان : ۲] د درېم پړاو په شان کار وشي.

کورنی کار : زده کوونکی دې په دې باب چې دوی په کورنۍ ژوند کې نظم او ترتیب څه ډول مراعات کوي ، وړې وړې مقالې ولیکي .

۲ـ درسي پلان : ۱۵۸

د تدریس طریقه :

- د کورنیو کارونو تر کتلو او د هڅونې وروسته په دوهم پړاو کې دې درسي کتاب د ۱۱۳ مخ متن تکرار کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي په دوو ډلو کې په نوبت سره د متن او د هغه د مطلب په برخه کې یو له بله پوښتنې وکړي ؛ ځوابونه دې ووایي او نظریې دې ورکړي .

د کتاب مخونه	: ۱۱۴ ـــ ۱۱۶
عنوان	: چرګان
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای شي .
- تصویرونه تشریح کړای شي .
- قید او صفت وښودلای شي .
- د چرګانو د ساتنې د ګټې او اهمیت په باره کې خپلې تجربې او معلومات ولیکلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۱۵۹

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې زده کوونکي د کتاب د ۱۱۴ مخ دتصویر په باره کې بحث وکړي .
- په دوهم پړاو کې دې درسي کتاب له ۱۱۴ مخ څخه د ۱۱۵ مخ تر لومړي پاراګراف (. . . برابرولای شي) پورې پر متن کار وشي.
- په درېم پړاو کې دې د [۲ـ درسي پلان : ۴۲] د درېم پړاو په شان کار وشي

کورنی کار : زده کوونکي دې د هغو چرګو او چرګانو نومونه لست کړي چې زياتره کورنۍ هغه د هګيو او غوښې له پاره ساتي .

۲ـ درسي پلان : ۱٦۰

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د کورنيو کارونو تر کتلو وروسته د درسي کتاب ۱۱۵ مخ تصوير زده کوونکو ته وروښيي چې پرې بحث وکړي .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۱۵ مخ له لومړي پاراګراف څخه د ۱۱٦ مخ تر پای پورې پر متن کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۳۳] د دريم پړاو په شان کار وشي .

۳ـ درسي پلان : ۱٦۱

د تدريس طريقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۱۱۴ ــ ۱۱٦ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې زده کوونکي په ډلو کې د چرګانو د ساتنې د ګټې او اهميت په باب خپل معلومات په لنډه توګه وليکي .

د کتاب مخ	: ۱۱۷
عنوان	: اخلاص
د درسونو شمېر	: ۲
هدفونه	: زده کوونکي بايد :
	• متن (شعر) په شعري انداز ولوستلای او مطلب يې وويلای شي .
	• نظم په نثر واړولای شي .
	• په شعر کې قافيه وښودلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱٦۲

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره له زده کوونکو څخه یو لړ پوښتنې وکړي مثلا اخلاص څه ته وایي ؟ صداقت څه شی دی ؟ اخلاص او صداقت کول څه ګټه لري ؟ ریا او تګ څه زیانونه لري ؟
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۱۷ مخ پر متن کار وشي .
- په دریم پړاو کې دې د [۱ــ درسي پلان : ۳۵] د دریم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې شعر یاد کړي .

۲ـ درسي پلان : ۱۶۳

د تدریس طریقه :

- د کورني کار تر کتلو او هڅونې وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۱۱۷ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په دریم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۱۱] د دریم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه	: ۱۱۸ ــ ۱۲۲
عنوان	: ماینونه
د درسونو شمېر	: ۴
هدفونه	: زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې وویلای شي .
- د تصویرونو په باره کې خبرې وکولای شي .
- د نومونو جمع او مفرد وښودلای او د کلمو په وړاندې وروسته کولو سره جملې جوړې کړای شي .
- د جمع نومونو اصلي او اوښتي شکلونه وښودلای شي .
- د ماینونو د خطراتو په هکله خپلې تجربې / معلومات وویلای / ولیکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۶۴

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره له زده کوونکو څخه دماینونو په باب پوښتنې وکړي او یا دې د کتاب د ۱۱۸ مخ تصویر ور وښیي چې پرې بحث او خبرې اترې وکړي .

- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب له ۱۱۸ مخ څخه د ۱۱۹ مخ تر لومړي پاراګراف (. . . شته والي علامې دي .) پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۲۲] ددرېم پړاو په شان کار وشي .

۲ـ درسي پلان : ۱۶۵

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې زده کوونکو ته د درسي کتاب د ۱۱۹ او ۱۲۰ مخ تصويرونه ور وښودل شي چې بحث پرې وکړي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۱۱۹ مخ له لومړي پا راګراف څخه د ۱۲۱ مخ تر درېم پراګراف (. . . خپله حال وايي) پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۱۶] [او [۲ ـ درسي پلان : ۱۷] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۳ـ درسي پلان : ۱۶۶

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې د ۱۲۱ مخ د تصوير په باره کې خبرې وشي .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۲۱ مخ له درېم پاراګراف څخه د ۱۲۲ مخ تر پای پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان :۵۶] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۴ـ درسي پلان : ۱۶۷

د تدريس طريقه :

- تر هڅونې وروسته په دوهم پړاوکې دې د کتاب د ۱۱۸ ـ ۱۲۲ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي دماينونو له خطراتو څخه د ځان ژغورنې په باب خپلې تجربې / معلومات د پاراګرافونو په بڼه وليکي .

د کتاب مخونه : ۱۲۳ ـ ۱۲۴

عنوان : د رخصتی ورځې

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې وویلای شي .
- عدد او امري فعلونه وښودلای شي .
- د رخصتی له ورځو څخه د مطلوبې ګټې اخیستلو په هکله خپلې تجربې / معلومات ولیکلای شي .

۱ ـ درسي پلان ۱۶۸

د تدریس طریقه :

- تر هڅونې وروسته په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب له ۱۲۳ مخ څخه د ۱۲۴ مخ تر لومړي پاراګراف (. . . کتابچې واخیستلې .) پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۱۰۸] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۲ ـ درسي پلان ۱۶۹

د تدریس طریقه :

- تر هڅونې وروسته په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۲۴ مخ د متن پر پاتې برخه کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۲ـ درسي پلان : ۲۹] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۳ ـ درسي پلان ۱۷۰

د تدریس طریقه :

- تر هڅونې وروسته په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۲۳ ـ ۱۲۴ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي د [د رخصتی ورځې باید څنګه تېرې کړو ؟] تر سر لیک لاندې خپلې تجربې / معلومات ولیکي .

کورنی کار : که کېدای شي شپږم ټولګي پښتو درسي کتاب دې پیدا او ولولې .

۳ مشقونه	- ښوونکی پر تخته باندې دغه لاندنی کلمې لیکي او له زده کوونکو څه غواړي چې د هرو دوو کلمو ارتباط ، د معنا له نظره ، بیان کړي . شپه ــ ورځ تور ــ سپین ښه ــ بد - زده کوونکي فکر او بحث کوي . ګوندې د کلمو ارتباط په خپله پیدا کړي . ښوونکی مرسته کوي . په پای کې زده کوونکي دې نتیجې ته رسېږي چې " شپه " د " ورځ " تور د " سپین " او " ښه " د " بد " ضد معنا لري . ښوونکی بیا وایي : هغه کلمې چې معناګاني یې یوه د بل ضد وي، متضادې کلمې بللې کېږي . - ښوونکی زده کوونکو ته لازښوونه کوي چې یو زده کوونکی دې په نوبت سره یوه کلمه ووایي . بل زده کوونکی دې اجازه واخلي او د هغې ضد دې ووایي . هر چا چې سم جواب ورکړ ، هغه دې بیا یوه کلمه ووایي چې نور یې ضد پیدا کړي . - ښوونکی په خپل وخت او په ترتیب سره متضادې کلمې پر تخته لیکي - زده کوونکي یې کتابچو ته نقلوي .	تخته تباشیر کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې دوهم پاراګراف ولولي . - ښوونکی پوښتنه کوي . - په دعا کې له الله تعالی څخه څه غوښتل شوي دي ؟ - یو یو زده کوونکی جواب وایي . - ښوونکی څو کلمې په وارسره وایي چې زده کوونکي یې ضد ووایي ؛ لکه : مور ، ژوندی ، ربنتیا او داسې نور . - کورنۍ کار : زده کوونکي دې د کتاب [۲] مخ ولولي او ګرانې کلمې دې په کتابچو کې ولیکي .	

۲ ـ درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ چمتووالی	ـ ښوونکی د درس تر پيل مخکې فعاليتونو (سلام اچول ، د احوال پوښتل ، د ټولګي تنظيمول د کورنۍ کار کتل ، ...) وروسته يو داوطلب زده کوونکی توري تختې ته غواړي او ورته لارښوونه کوي ، هغه کلمې وليکي چې ملګري يې له خپلو کتابچو څخه ورته لولي . ـ بيا ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې له کتابچو څخه هغه کلمې په وار سره ولولي چې يې ليکلي دي . نور زده کوونکي/ ښوونکی کلمې معنا کوي او پر تخته يې ليکي.	کتابچې توره تخته
۲ پر متن کار کول	ـ زده کوونکي په وار سره د [۲] مخ د متن يو يو پاراګراف په مناسب لوړ اواز لولي . بيا زده کوونکي يوه يوه جمله په لوړ اواز لولي او مطلب يې په خپله ژبه بيانوي . ـ کله چې ټول متن ولوسټلای شي بيا ښوونکی همدغه متن په لوړ او مناسب اواز لولي . ـ زده کوونکي غوږ نيسي . ـ ښوونکی د دعا د هر پاراګراف د مطلب لنډيز وايي . بيا يو داوطلب زده کوونکی د [۱ ـ ۲] مخونو ټول متن لولي . ورپسې څو زده کوونکي د متن مطلب په خپله ژبه وايي . نور زده کوونکي سمونې، پوښتنې او بحث کوي . ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي .	درسي کتاب
۳ مشقونه	ـ ښوونکی پر تخته باندې لاندې کلمې ليکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې د هرو دوو کلمو ارتباط د معنا له نظره پيدا کړي : بنادي ـ خوشالي مرسته ـ کومک ډوډۍ ـ رزق ـ زده کونکي پرې فکر او د خپل څنګ له ملګري سره روباندې بحث کوي	

	ګوندې په خپله دا خبره پيدا کړي چې ښادي او خوشالي ، مرسته او کومک ، دوډی او رزق يوه معنا لري . کله زده کوونکي يې پيدا نه کړای شي ، ښوونکی ورسره مرسته کوي . - ښوونکی پر تخته باندې ليکي : هغه کلمې چې يوه معنا ولري ، يا معناګاني يې سره نژدې وي مترادفې کلمې بللې کېږي ؛ لکه : صداقت او رښتيا ، نقص او عيب ، دوستان او خپلوان . - زده کوونکي د توري تختې متن په خپلو کتابچو کې ليکي . - ښوونکی د زده کوونکو درېو ډلو له پاره له لاندې کلمو څخه څو څو کلمې پر توره تخته ليکي او ور څخه غواړي چې په خپلو ډلو کې د هغوی مترادفې کلمې ولټوي او ويې ليکي . ابرو ، اتل ، استعداد ، لوړوالی ، اعتماد ، تلوار ، لوخ ، اورښت ، بخښش ، حق ، مقايسه ، پيمان ، علم ، ټغر ، مناره . - د ډلې ييز کار په پای کې ښوونکی له ډلو څخه غواړي چې خپل يو يو استازی په نوبت سره توري تختې ته واستوي چې خپل کار وليکي . - د هرې ډلې د استازې تر کار وروسته ، زده کوونکي / ښوونکی بحث او سمونې کوي . - ښوونکی دې له زده کوونکو څخه هم وغواړي چې يوه کلمه ووايي او بل زده کوونکي د هغې مترادف يا ضد ووايي او دې مشق ته دوام ورکړي . کله ضرورت و زده کوونکي د تختې له مخې د خپلو کتابچو ليکنې سموي .	
۴ ارزيابي	- ښوونکی د دعا په باره کې خلص توضيحات ورکوي . - ښوونکی له يوه يا دوو زده کوونکو څخه غواړي چې د نننې لوستل شوي متن يو يو پاراګراف ولولي . کورنی کار : زده کوونکي دې دوه دوه نوې کلمې له مترادفو کلمو سره وليکي .	

۳ ـ درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مود
۱ هڅونه	ـ ښوونکی پوښتنه وايي: چا چې خپل کورنی کار کړی وي ، لاسونه دې جګ کړي . که چا لاس جګ نه کړ ، پوښتنه دې ور څخه وکړي چې ولې ؟ د زده کوونکي دليل دې واورې او توصيه دې ورته وکړي چې خپل کورنی کار سرته ورسوي . ـ ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې خپل کورنی کار ولولي . زده کوونکی / ښوونکی سمونې کوي .	
۲ د موضوع تکرار	ـ ښوونکی له دوو / درېو تنو زده کوونکو څخه غواړي يچ د کتاب د [۱ ـ ۲] مخونو ټول متن په نوبت سره ولولي .نور زده کوونکي / ښوونکی غلطی سموي . ځينې زده کوونکي د متن مطلبونه په نوبت سره په خپله ژبه وايي .	درسي کتاب
۳ مشقونه	ـ ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو وېشي او هر ګروپ ته يو مشر ټاکي . يوه ګروپ ته لارښوونه کوي چې ټول متن په شريکه ولولي او هغه متضادې کلمې چې په متن کې راغلي دي ، فهرست کړي . بل ګروپ ته ووايي چې هغوی هم متن په شريکه ولولي ، مترادفې ورڅخه کلمې وباسي او فهرست يې کړي . د دې کار په پای کې د هر ګروپ استازی په نوبت سره پر توره تخته خپل کړی کار ليکي . نور زده کوونکي سمونې / بحث کوي . ښوونکی مرسته کوي . ـ ښوونکی دې د لاندني جدول له مخې د زده کوونکو کار اصلاح کړي. متضادې کلمې : حلال ـ حرام ښېګڼه ـ بدي سوله ـ شخړه کمی ـ پرېماني اتفاق ـ نفاق خوشحالي ـ خفګان مترادفې کلمې : چارې ـ کارونه شر ـ فساد رحيم ـ رحمان مينه ـ محبت عدل ـ انصاف توان ـ طاقت	درسي کتاب کتابچې

	ښـــو ـ بدو روا ـ ناروا ـ زده کوونکي د تختې کلمې په خپلو کتابچو کې ليکي.	
۴ ارزيابي	ـ ښوونکی له څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره لنډې لنډې دعاګانې وکړي . ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د لاندې کلمو معناګانې ووايي: خالق ، رازق ، پرهمانه ، حافظ ، ناصر ، شخړه ، سوکاله ، حکمت ، انصاف او نور .	

د کتاب مخونه : ۳ ـ ۴

عنوان : حضرت محمد صلی الله علیه وسلم

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او ګراني کلمې / عبارتونه / جملې يې معنا کړای شي .
- د متن مطلب په خپله ژبه وويلای او وليکلا شي .
- د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په باره کې معلومات وويلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۴

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ چمتووالی	ـ ښوونکی پوښتنې کوي : • مور د چا بنده ګان يو ؟ • مور د چا امتيان يو ؟ • د حضرت محمد (ص) په باره کې چې څه معلومات لرئ ، ويې وايئ . ـ زده کوونکي ځوابونه وايي / بحث کوي .	
۲ پر متن کار کول	ـ ښوونکی/ زده کوونکي دې د ۲ مخ د متن پر دوولومړنيو پاراګرافونو باندې د تېرې موضوع [پاکه ربه !] د لومړي درس د دوهم پړاو په شان کار وکړي .	درسي کتاب

۳ مشقونه	ـ ښوونکی دې زده کوونکو ته لاړښونه وکړي چې د متن مطلب په خپله ژبه ووایي او پرې بحث وکړي . که وخت و ، ښوونکی دې پر تخته دا پوښتنه وليکي چې مشرک څه ته وایي؟ او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې یو یو تن توري تختې ته ورشي او خپل ځوابونه وليکي .	تخته تباشیر کتابچې
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی دې د متن په باب لنډ توضیحات ورکړي . پر زده کوونکو باندې دې د متن ځینې برخې ولولي او د درس د مطالبو په باب دې پوښتنې وکړي . ـ ښوونکی دې دا کلمې (بد امني ، حلال) پر توره تخته وليکي اوله زده کوونکو څخه دې وغواړي چې کتابچو ته یې ورسوي او بیا دې هرې یوې کلمې ته یوه جمله وليکي .	

۲ ـ درسي پلان : ۵

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ ـ۲چمتو والی پرمتن کارکول	ـ ښوونکی / زده کوونکي دې د چمتووالي تر پړاو وروسته د [۳] مخ پر درېم پاراګراف او د [۴] مخ پر اول پاراګراف باندې له تېرو لاړښوونو سره سم کار وکړي .	درسي کتاب
۳ مشقونه	ـ د تېر درس په شان دې کار وشي .	
۴ ارزیابی	ـ د تېر درس په شان ارزیابي کېږي . کورنی کار : ښوونکی دې لاندنی پوښتنه پر توره تخته وليکي . زده کوونکي یې دې کتابچو ته ورسوي او ځواب یې دې وليکي . ـ عبدالمطلب د حضرت محمد (ص) د زېږېدو په اوومه ورځ څوک را وبلل او څه یې ورته حلال کړل ؟	

۳ ـ درسي پلان : ٦

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مود
۱ ـ ۲ چمتووالی	ـ ښوونکی او زده کوونکي دې د چمتووالي تر پړاو وروسته د [۴] مخ	

پر متن کار کول	پر وروستي پاراګراف باندې د همدې پرې او له فعالیتونو او طریقې سره سم کار وکړي .	
۳ مشقونه	ـ دوه تکړه زده کوونکي دې د ۳ ـ ۴ مخونو ټول متن (یو دې دوه لومړي پاراګرافونه او بل دې پاتې برخه) په لوړ مناسب آواز ولولي . ـ ښوونکی دې ټولګی پر درېو ګروپونو وویشي او داسې وظیفې دې وکړي : لومړی ګروپ ته دې دا پوښتنه پر تخته ولیکي : د حضرت محمد (ص) تر زېږېدو مخکې په عربستان کې څه حال و ؟ زده کوونکي دې د [۳] مخ د اول او دوهم پاراګراف په لوستلو سره د پوښتنې ځواب په خپله ژبه ولیکي . (هره جمله دې په ګډه سره جوړه کړي . د ګروپ مشر دې هغه په خپله کتابچه کې ولیکي نور زده کوونکي یې دې خپلو کتابچو ته نقل کړي .) ـ دوهم ګروپ ته دې دغه عنوان پر تخته ولیکي : " د حضرت محمد (ص) زېږېدنه او د هغې واقعات " دوی دې د [۳] مخ د وروستي پاراګراف او د [۴] مخ د لومړي پاراګراف په لوستو سره د دې عنوان مطالب په خپله ژبه ولیکي . درېم ګروپ ته دې دغه سوال پر تخته ولیکي : چې حضرت محمد (ص) ستر شو نو څه وشول ؟ زده کوونکي دې د [۴] مخ د دریم او څلورم پاراګرافونو په لوستو سره د دې پوښتنې ځوابونه / مطلبونه په خپله ژبه ولیکي . ـ ښوونکی زده کوونکي په خپلو وظایفو سم پوهوي ؛ وخت ورته ټاکي ؛ پر ګروپونو ګرځي . سټونزې حلوي ؛ پوښتنو ته ځوابونه وایي، لارښوونه کوي . ـ چې د لیکلو ټاکلی وخت سرته ورسېږي ، د هر ګروپ استازی دې په نوبت سره د ټولګي مخې ته ورشي چې د کار نتیجې ولولي / ولیکي . ـ زده کوونکي سمونې او بحث کوي .	درسي کتاب کتابچې

۴ ارزیابي	ـ ښوونکی په خپل نوښت سره دا پړاو تنظیم او تدریسوي . کورنی کار : زده کوونکي دې د کتاب [۵] مخ په کور کې ولولي او سخت کلمې یې دې په خپلو کتابچو کې ولیکي .	

د کتاب مخونه : ۵
عنوان : د علم مېوه
د درسونو شمېر : ۲
هدفونه : زده کوونکي باید :
- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای شي .
- ځینې کلمې په جلمو کې استعمال کړای شي .
- د علم د اهمیت په باب څه ولیکلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۷

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ چمتووالی	ـ ښوونکی دې له خپل نوښت څخه کار واخلي . کورنی کار دې وګوري . چا چې نه دی کړی ، د هغو نومونه دې یاد داشت کړي توصیه دې ورته وکړي .	
۲ پر متن کار کول	ـ د [۵] مخ پر ټول متن دې له پخوانیو لارښونو سره سم کار وشي . ـ یو / دوه زده کوونکي دې د ټول متن مطلب په خپله ژبه وویي.	درسي کتاب
۳ مشقونه	ـ ښوونکی دې له متن څخه یوه کلمه وویي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې هغه پر توه تخته په یوه لنډه جمله کې وکاروي . چا چې غلطي وکړه ، نور ژده کوونکي دې جمله سمه کړي . چا چې سمه جمله وویله هغه دې یوه کلمه وویي چې کوم بل زده کوونکی یې په جمله کې وکاروي . ټول زده کوونکي دې په دې طریقه په نوبت سره مشق وکړي . زده کوونکي دې په ښه نظم او د اجازې تر اخیستلو وروسته یو د بل غلطې جملې سمې کړي . ښوونکی دې	درسي کتاب تخته ، تباشیر کتابچې

	د لزوم په وخت کې مرسته او لارښوونه وکړي . که زده کوونکو په خپله غوښتل ، د توري تختې سمې جملې دې وار په وار خپلو کتابچو ته ورسوي . مثال : تجربه کار : زمور ښوونکی تجربه کار سړی دی . علم : د علم زده کول پر هر مسلمان نارینه او ښځې فرض دي . تخنیك : هر ولس دتخنیك په زده کولو پر مختګ کولای شي .	
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی دې له خپل نوښت څخه کار واخلي . که لازم وي مناسب کورنی کار دې ورکړي او په بل درس کې یې دې وګوري .	

۲ ـ درسي پلان : ۸

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ چمتووالی	ـ ښوونکی دې له خپل نوښت سره سم پر دې پړاو کار وکړي .	
۳ پر متن کار کول	ـ د کتاب د [۵] مخ متن دې پاراګراف په پاراګراف له پخوانیو لارښوونو سره سم پر زده کوونکو تکرار شي . ـ زده کوونکي دې د علم د ګټو په باب خپلې نظریې ووایي .	درسي کتاب
۳ مشقونه	ـ زده کوونکي دې په ډلو ډلو کې د علم د اهمیت په باب خپلې نظریې د وړې مقالې په ډول په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا یې دې دهرې ډلې استازی په نوبت سره د ټولګي په مخکې ولولي . نور زده کوونکي دې د ضرورت وړ جملې پر توره تخته سمې ولیکي . - زده کوونکي دې د هغو له مخې خپلې غلطې جملې په خپلو کتابچو کې سمې کړي .	کتابچې
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی دې له نوښت څخه کار واخلي . ـ زده کوونکي دې دنن ورځې لیکلې مقالې په کورونوکې پاکنویس کړي .	

د کتاب مخ : ٦

عنوان : د انسان مقام

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای شي .
- ځينې موئث نومونه وښودلای شي .
- د انسان د مقام د لوړوالي په باب خپلې نظريې بيان کړای شي .

۱ـ درسي پلان : ۹

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعّاليتونه	درسي مواد
۱ چمتووالی	ـ ښوونکی دې له خپل نوښت څخه کار واخلي .	
۲ پر متن کار کول	ـ د [٦] مخ پر متن باندې دې له ټاکليو لارښوونو سره سم ګام په ګام کار وشي . ـ زده کوونکي دې د متن مطلب په خپله ژبه ووايي او بحث دې پرې وکړي .	درسي کتاب
	ـ ښوونکی دې لاندې کلمې د تورې تختې يوې خواته وليکي او جدول دې په بله خوا کې رسم کړي : چوکۍ ، سپوږمۍ ، ورځ ، مور ، خور ، نيا ، ونه ، بزه ، سجده ، لاره ، ښځه ، بيزو ، ښوونکی . ـ ښوونکی دې د زده کوونکو له دوو ډلو څخه وغواړي چې يوه ډله دې په کتابچو کې له نومورو نومونو څخه ذيروح او بله ډله دې غير ذيروح نومونه د مثالو په شان په خپلو خانو کې وليکي . ـ د ډلو استازي دې خپلې خپلې برخې د تورې تختې په جدول کې وليکي .	ذيروح | غير ذيروح مور | چوکۍ خور | سپوږمۍ ... | ...	کتابچې

سريزه

د پنځم ټولګي د پښتو درسي کتاب ټول [۱۳۱] مخونه لري چې [۱۲۴] يې متن او وروستني [۷] مخونه يې لغتنامه ده .کتاب ټول [۶۴] بېلابېل سر ليکونه لري تر هر سر ليک لاندې متن د خپلو ځينو ځانګړتياګانو له مخې په بېلو بېلو درسي واحدونو وېشل شوی او برېدونه يې په درسي پلان کې په ګوته شوي دي .

دا کتاب د تېرو ټولګيو د پښتو کتابونو په اساس ليکل شوی دی . د زده کوونکو د پخوانيو معلوماتو، زده کړو او تجربو پر بنسټ يوني سربېره ، هغوی ته نوي معلومات ، مفاهيم او پيغامونه هم رسوي . دغه راز ، لوستلې ژبنۍ قاعدې اواساسات يې پياوړي کوي چې په دې توګه يې د لوړو زده کړو، په تېره بيا د شپږم ټولګي د درسونو ، له پاره چمتو کوي .

د کتاب موضوعګانې تر جلا ـ جلا سر ليکونو لاندې راغلې دي . هڅه شوې ده چې د کتاب ژبه ساده او روانه وي ؛ جملې يې لنډې ـ لنډې شمېرلې او چټلې وي ؛ ګونګ او کړکېچن عبارتونه ونه لري . لنډه دا چې د کتاب په ليکلو کې د زده کوونکو عمر ، سويه محيطي او اجتماعي شرايط او داسې نور ملاحظات په نظر کې نيول شوي دي .

په کتاب کې د ځينو موضوعګانو په اړه ځيني تصويرونه کښل شوي چې د زده کړې او تدريس پروسه آسانه کوي .

عمومي هدفونه :

دغه کتاب په مجموعي ډول او هر درس يې په بېلابېله توګه ځيني مشخص ژبني او غير ژبني هدفونه لري . په عمومي توګه ، د دغو هدفونو مراد دا دی چې د هر درس تر تدريس وروسته بايد :

- د زده کوونکو يو لړ ژبني مهارتونه وده وکړي ؛
- پر يوشمېر مفهومونو او مطلبونو وپوهېږي ؛

	ـ بيا دې ښوونکئ له زده کوونکو څه پوښتنه وکړي چې د جدول ذيروح نومونه د معنا له مخې مذکر دي که مؤنث ؟ ـ زده کوونکي بحث کوي او ځواب وايي (مؤنث) . ـ ښوونکی موضوع پرتخته باندې ليکي او روښانه کوي يې : هغه کلمې چې پر مؤنث ذيروح دلالت وکړي "حقيقي مؤنث نومونه " بلل کېږي . ـ زده کوونکي د چوکاټ جمله په خپلو کتابچو کې ليکي .	تووره تخته
۴ ارزيابي	ـ پر څو زده کوونکو دې د لومړي پاراګراف جملې ولوستل شي . ـ ښوونکی دې څو مؤنث نومونه ، لکه : [ښارو ، ترور ، ناوې ، غوا] پر تووره تخته وليکي او بيا دې له ببلابېلو زده کوونکو څخه پوښتنې وکړي چې دې ته څه ډول نومونه ويل کېږي . * د ښوونکي له پاره ځواب : حقيقي مؤنث نومونه کورنۍ کار : ښوونکی دې څو مؤنثي کلمې ورکړي چې زده کوونکي يې په جملو کې وکاروي .	

۲ ـ درسي پلان : ۱۰

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ چمتووالی	ـ ښوونکی دې دغه پړاو په خپل نوښت وړاندې بوځي .	
۲ پر متن کار کول	ـ ښوونکی متن پر زده کوونکو تکراراً لولي . زده کوونکی / ښوونکی غلطئ سموي . ـ ځينې زده کوونکي د متن مطلب په خپله ژبه وايي . نور زده کوونکي بحث کوي او خپلې نظريې وايي .	درسي کتاب
۳ مشقونه	ـ ښوونکی د زده کوونکو له دوو ډلو څخه غواړي چې د تېر درس له جدول څخه (له کتابچو څخه) څلور څلور غير ذيروح نومونه په	کتابچې

	جلا جلا لنډو جملو کې وکاروي . - د ډلو استازي خپلې جملې پر تخته لیکي . زده کوونکی / ښوونکی سمونې کوي . * د ښوونکي له پاره : چوکۍ ماته شوه . سپورۍ وختله . ورځ شوه . ونه وچه شوه . د نور ګل پزه وینې شوه . دولت خان سجده وکړه . لاړه خلاصه ده . د بیزو ملا ماته شوه . - بیا ښوونکی دا جملې پر تخته لیکي : مېز مات شو . لمر وخوت . او له زده کوونکو څخه غواړي چې دغه جملې له پاسنیو جملو سره مقایسه کړي او د فعلونو د شکلونو توپیر (ماته شوه ـ مات شو او وختله ـ وخوت) ته ځیر شي او ودې وایي چې ولې توپیر لري . - زده کوونکي فکر او بحث کوي . ګوندې ووایي چې [ماته شوه] او [وختله] مؤنث فعلونه دي ، مګر [مات شو] او [وخوت] مذکر فعلونه دي . ښوونکی دې لارښوونه او مرسته وکړي . ښوونکی توضیح ورکوي : هغه غیر ذیروح نومونه چې په [ی ، ځ ، ه / ـه ، ا] ختم شي مؤنث دي . دې ډول نومونو ته لفظي مؤنث نومونه وایي . - زده کوونکي د چوکاټ جملې په خپلو کتابچو کې لیکي .	تخته توره
۴ ارزیابي	- ښوونکی دې د لفظي مونثو نومونو په باب لنډ توضیحات ورکړي . - د درس په اړه دې پوښتنې وکړي - زده کوونکي دې ځوابونه ووایي . کورنی کار : زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې دوه دوه لفظي مؤنث نومونه ولیکي او په جملو کې یې دې وکاروي .	

د کتاب مخ : ۷

عنوان : ای هېواده !

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن (ترانه) په شعري لهجه ولوستلای او مطلب یې وویلای شي .
- ترانه په نثر واړولای او ولیکلای شي .
- ترانه له یاده وویلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۱۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ چمتو والی	ـ ښوونکی دې کورني کارونه وګوري . ـ ښوونکی پوښتنې کوي : • وطن څه شي ته وایي ؟ • وطن ولې پر هر چا ګران وي ؟ • زمونږ وطن پر مونږ کوم حقونه لري ؟ ـ زده کوونکي ځوابونه وایي او خپلې نظر یې بیانوي .	
۲ پر متن کار کول	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د [۷] مخ ترانه د خپل ځنګ له ملګرو سره په ټیټ آواز ولولي او هغه کلمې په نښه کړي چې پر معنا یې نه پوهېږي . ښوونکی لارښوونه کوي . کوښښ دې وکړي چې ترانه په نظم / شعري لهجه ولولي . ـ زده کوونکي هغه کلمې پر توره تخته لیکي چې په نښه کړي یې دي . ـ زده کوونکي / ښوونکی کلمې یوه یوه لولي ، معنا کوي یې او پر توره تخته یې د خپلې کلمې تر څنګ لیکي . ـ ښوونکی په درېو نوبتونو کې له دوو دوو داوطلبو زده کوونکو څخه غواړي چې د توري تختې تر څنګ ودرېږي او په نوبت سره د ترانې یو یو بند په مناسبه شعري لهجه داسې ووایي چې یو به یې د بیت	درسي کتاب توره تخته

	لومړی مسره او بل به یې دوهمه مسره لولي . زده کوونکي یې په کتابونو کې تعقیبوي . که ضرورت و زده کوونکي / ښوونکی سمونې کوي . - ښوونکی یو ځل ترانه په مناسب لوړ آواز او شعري لهجه لولي ؛ زده کوونکي ورته غوږ نیسي او په درسي کتاب کې یې په پټه خوله تعقیبوي .	
۳ مشقونه	- ښوونکی له یو یو زده کوونکي څخه په نوبت سره غواړي چې یو یو بیت ولولي ، معنا یې کړي او فکر وربانديې وکړي چې په هغه کې څه مطلب دی . هغه په خپله ژبه (په نثر) ووایي ؛ مثال : ای هېواده ، ای هېواده ! ای زما خوږه هېواده ! مطلب په نثر : ای هېواده ! یا ای وطنه ! ای زما خوږه هېواده ! ته زما خوږ وطن یې . ته ماته خوږ یې . دغه مشق تر آخره پورې په شفاهي توګه جاري ساتل کېږي . - زده کوونکي د وطن په باب په نوبت سره خپلې نظریې بیانوي او سره بحث کوي . ښوونکی لارښوونه / سمونه مرسته کوي .	درسي کتاب
۴ ارزیابي	- ښوونکی په څو زده کوونکو یو یو بیت لولي . - ښوونکی د متن په اړه پوښتنې کوي . کورنی کار : زده کوونکي دې ترانه یاده کړي چې په راتلونکي درسي ساعت کې به وربانديې مسابقه (شعر جنګي) کوي .	

۲ـ درسي پلان : ۱۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ چمتو والی –	ـ ښوونکی دې له خپل نوښت څخه کار واخلي / هغه کولای شي چې په دې مرحله کې په زده کوونکو د شعر مسابقه / شعر جنګي وکړي په دې معنا چې زده کوونکي پر دوو ډلو / کتارونو وېشي او ورته وايي چې ټول ځانونه چمتو کړئ ؛ يوه ډله ترانه پيل کوي . يعني له يادې به يو بيت وايي . بله ډله به يې ورپسې / تعقيبوي بيت له يادې وايي . په همدې ترتيب ترانه تر آخره له يادې وايي . ښوونکی پر ډلو د [الف] او [ب] نومونه ږدي . کله چې هره ډله اړوند بيت صحيح وايي ، هغه ته پر توره تخته يوه (۱) نمره ورکوي . په پای کې نمرې جمع کوي ؛ وړونکې ډله معرفي کوي او ورته آفرين وايي .	
۲ پر متن کار کول	ـ ښوونکی دې له څو زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره ټوله ترانه له يادې ووايي . ـ ښوونکی دې په څو زده کوونکو د ترانې يو يو بند ولولي .	
۳ مشقونه –	ـ ښوونکی په درېو ډلو کې له زده کوونکو څخه غواړي چې د ترانې د يوه يوه بند مطلب په نثر واړوي او په خپلو کتابچو کې وليکي . ـ بيا د ډلو استازي خپلې جملې لولي . زده کوونکي / ښوونکی جملې سمولي او پر توه تخته يې ليکي . ـ زده کوونکي د تختې له مخې خپلې غلطۍ په کتابچو کې سمولي .	توره تخته کتابچې
۴ ارزيابي	ـ ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې يو يو بيت ولولي او مطلب يې بيان کړي . غلطۍ سمولي .	

د کتـاب مخـونـه : ۸ – ۹

عنـوان : سـولـه

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يي په خپله ژبه ووياى شي .
- د متن ځينې کلمې په جملو کې وکارولای شي .
- د نومونو اصلي او اوښتي حالتونه وښودلا شي .
- د سولې د ضرورت او اهميت په باب خپلې نظريې وويلای او وليکلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۱۳

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې که د سولې په باب يې کومه کيسه ، متل ، شعر يا بل څه زده وي ، ويې وايي .
- په دوهم پړاو کې ښوونکی / زده کوونکي د کتاب پر دوهم پاراګراف تر پايه پورې [. . . په خطر کې شول .] د تېرو لوستونو د دوهمو پړاوونو د لارښوونو او غوښتنو سره سم کار کوي .
- په دريم پړاو کې ښوونکی لاندې جملې پر توره تخته ليکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې ويې لولي او د کلمو توپير په کې پيدا کړي . ښوونکی پوښتنه کوي چې په دوهمه جمله کې د ځينو کلمو شکل ولې اوښتی دی ؟
- ښوونکي د زده کوونکو دوه ډلې مسجد ته ولېږلې .
- ښوونکی د زده کوونکو له دوو ډلو سره مسجد ته ولاړ .

دلته بايد زده کوونکي د [دوه ډلې ، ولېږلې] او د [لـه دوو ډلـو] ، ولاړ په ترکيب او اوښتون وپوهېږي . بيا ښوونکی لاندنی کلمې په دوو سيټونو کې پر توره تخته ليکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې د هرې جوړې توپير وښيي . دغه راز ، د پاتې کلمو اوښتي شکلونه بشپړ کړي .

پخلاينه	–	پخلاينې
روغه	–	روغې
جوړه	–	جوړې
پېرزوينه	–	. . .

بله –

دواړه –

کورنۍ –

دوه –

خواوې / خواګانې –

ډلې –

زده کوونکي فکر ، بحث او کار کوي . که ضرورت و ښوونکی ورسره مرسته کوي . ښووکی د دې کار په پای کې د نتیجې په ډول وایي [کله چې په وینا یا لیک کې د [پخلاینه ، روغه ، جوړه ، پېرزوینه ، کلی ، کورنۍ ، بله ، خواوې / خواګانې او ډلې] د کلمو تر مخه [د ، له ، په] وکارول شي نو دکلمو شکل بدلېږي . هغو ته دکلمو اوښتی یا متغیره حالت ویل کېږي . داسې کلمو : (د ، له ، په) ته ادوات ویل کېږي .

ښوونکی د توري تختې پر سر لیکي :

په وینا کې د ادواتو د استعمال له املې د ځینو نومونو اصلي حالتونه بدلېږي . دې ته د نومونو متغیره / اوښتي حالتونه وایي .

زده کوونکي یې کتابچو ته رسوي .

– په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي . پوښتنې کوي : سوله څه ته وایي ؟ تاسې د سولې په باب څه ولوستل ؟ ښوونکی څو نومونه وایي چې زده کوونکي یې اوښتي حالتونه وښیي .

کورنی کار : ښوونکی دا کلمې [هلکان ، هلکانو] پر توره تخته لیکي او له زده کوونکو غواړي چې د هرې یوې په باره کې یوه یوه جلمه ولیکي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۴

د تدریس طریقه :

– په لومړي پړاو کې دې ښوونکی له خپل نوښت څخه کار واخلي .

– په دوهم پړاو کې دې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د [۸] مخ له وروستي پاراګراف څخه د [۹] مخ تر پای پورې پر متن کار وکړي .

- په درېم پړاو کې ښوونکی د لاندنیو نومونو څخه څو څو نومونه په ستوني ډول د زده کوونکو د درېو ډلو له پاره پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې د یوه یوه نوم اصلي حالت پر تخته د هغه د اوښتي حالت په مقابل کې ولیکي :

د څو تنو	–	څو تنه		زړونو	–
د نورو سپین ږیرو	–	نور سپین ږیري		ورونو	–
تر سلا مشورې	–	سلا مشوره		ښادۍ	–
تر پزې	–	...		ټولو	–
په تندي	–	...		پرېکړو	–
د جرګې	–	...		مودو ، مودو	–
د غاړو	–	...		خلکو	–
...	–	...		حجرو	–
...	–	...		دوستۍ	–

د دې پړاو پاتې قدمونه د تېرو لوستونو د لاښوونو په شان سرته رسېږي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زه کوونکو د متل ځینې برخې لولي او ور څخه غواړي چې د متن مطلب په خپله ژبه ووایي . دغه راز د ځینو نومونو متغیره حالتونه ورته پر توره تخته لیکي چې اصلي حالتونه یې ووایي / ولیکي .

۳ ـ درسي پلان : ۱۵

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی له خپل نوښت څخه کار واخلي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکی / ښوونکی د کتاب د ۸ ـ ۹ مخونو د متن پر لوستلو او مطلب اخیستلو تکراراً کار کوي .
- په دریم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي پر درېو ګروپونو وېشي او ورته وایي چې لومړنی ګروپ دې د متن مطلب په خپله ژبه ولیکي . دوهم ګروپ ته ځینې لغتونه ورکوي چې په جملو کې یې وکاروي درېم ګروپ ته د ځینو نومونو اصلي حالتونه ورکوي چې اوښتي حالتونه یې ولیکي . د دې پړاو پاتې قدمونه د تېرو لوستونو په شان پر مخ بوول کېږي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی د متن او موضوع په ارتباط ارزیابي کوي .

د کتاب مخونه : ۱۰ ـ ۱۱

عنوان : د مور او پلار درناوی

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي .
- د متن د ځینو مفردو کلمو جمع او د جمعې کلمو مفرد وښودلای شي .
- د مور او پلار د درناوي په باره کې خبر وکولای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۶

- په لومړۍ پړاو کې ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي : ولې زامن او لونې د مور او پلار متابعت او خدمت کوي ؟ زده کوونکي خپلې نظریې وایي .
- په دوهم پړاو کې ښوونکی / زده کوونکي د کتاب د ۱۰ مخ پر لومړي پاراګراف له تېرو لارښوونو سره سم کار کوي .
- په دریم پړاو کې ښوونکی د متن ځینې مفردې کلمې ، لکه : درناوی ، هرکلی ، اولاد ، خدمت حکم، عزت ، خواخوږي ، سلام ، لمونځ ، مور ، پلار ، احترام ، .... پر تخته لیکي بیا دغه کلمې د زده کوونکو په ډلو ډلو ویشي او ورځخه غواړي چې په خپلو کتابچو کې د هغو جمع شکلونه ولیکي . د ډلو استازي په نوبت سره تختې ته ورځي او خپل سرته رسېدلی کار وړاندې کوي . زده کوونکی / ښوونکی لارښوونه / سمونې کوي . زده کوونکي وار په وار منل شوې کلمې په خپلو کتابچو کې لیکي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی د لوستل شوي متن ځینې برخې په زده کوونکو لولي . د ځینو کلمو د معناوو پوښتنه کوي .

کورنی کار : زده کوونکي دې په دې باره کې چې مور او پلار ته څه خدمت کولای شي ، درې ـ درې جملې ولیکي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۷

تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی له خپل نوښت څخه کار واخلي .

- په دوهم پړاو کې دې ښوونکی / زده کوونکي د کتاب د [۱۰] مخ د پاتې برخې څخه د [۱۱] مخ تر پای پورې پر متن کار وکړي .
- په دریم پړاو کې دې ښوونکی د متن ځینې جمع کلمې لکه : حقونه ، میاشتو ، تکلیفونه ، ناروغی ، کارونه ، رحمتونه ، شوګېرې ، نومونه ، کلونه ، ... پر تختې لاندې باندې ولیکي ، او له زده کوونکو څخه دې وغواړې چې په نوبت سره تختې ته ورشي او د هغو مفرد حالت ووایي او ولیکي . ښوونکی زده کوونکي په دوو برخو ویشي . یوې ته یې [ښښنه ، مغفرت] بلې ته [حقونه ، دعاګانې] کلمې سپاري او ورته لارښوونه کوي چې د هرې ډلې د څنګ دریې زده کوونکي دې سره یو ځای د دې کلمو په باره کې یوه یوه جمله ولیکي . د ضرورت په وخت کې ښوونکی سمونې کوي . بیا په نوبت سره د هرې برخې د دریې کسیزو ډلو استازي خپلې خپلې جملې لولي . ښوونکی د هرې کلمې تر ټولو ښه او منلې جمله پر تخته لیکي . زده کوونکي د تورې تختې جملې په خپلو کتابچو کې لیکي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو د متن ځنې برخې لولي او د کلمو معنا پوښتي .

کورنۍ کار : زده کوونکی دې د [۱۱] مخ د متن د وروستي پاراګراف لنډ مطلب په خپله ژبه ولیکي .

۳ ـ درسي پلان ۱۸

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی له خپل نوبت څخه کار واخلي .
- په دوهم پړاو کې دې ښوونکی د [۱۰ ـ ۱۱] مخونو پر متن تکراراً کار وکړي .
- په دریم پړاو کې دې ښوونکی زده کوونکي پر دوو ډلو وویشي . یوې ډلې ته دې لارښوونه وکړي چې د [۱۰] مخ متن په خپلو کې سره ولولي ، مفردې کلمې په کې په ښنه کړي او بیا د هغو استازي دې هغه کلمې پر تخته ولیکي چې دبلې ډلې استازي د خپلې ډلې په مشوره د هغو کلمو جمع شکلونه ولیکي . بلې ډلې ته دې لارښوونه وکړي چې د [۱۱] مخ متن په خپلو کې سره ولولي ، جمع کلمې دې په ښنه کړي او بیا دې په خپل نوبت کې د دې ډلې استازی هغه پر تخته ولیکي چې د لومړۍ ډلې استازی د خپلې ډلې په مشوره د هغو مفرد شکلونه ولیکي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی د متن ځینې برخې په زده کوونکو لولي . د کلمو د معناګانو پوښتنه کوي . د ځینو مفردو کلمو د جمعې او د جمعې کلمو د مفردو بڼو پوښتنه کوي .

- ځینې تاکلې تجربې تر لاسه کړي ؛
- او بالاخره شخصیت یې یوه هدفمنده لوري ته سوق شي او وده وکړي .

ځانګړي هدفونه :

دا کتاب ۲ ډوله ځانګړي هدفونه لري ـ ژبني او غیر ژبني .

۱ـ ژبني هدفونه :

دغه هدفونه دا دي چې زده کوونکي باید :

- متن په سمه او روانه توګه ولوستلای شي .
- په متن کې د راغلو لغتونو ، اصطلاحګانو ، ترکیبونو ، فقرو او جملو معنا او مفهوم وویلای او ولیکلای شي .
- د متن مطلب او مفهوم په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي چې اورېدونکي او لوستونکي پرې په آسانۍ سره وپوهېدلای شي .
- جملې ، پاراګرافونه او وړې مقالې په معیاري املا او ښه خط ولیکلای شي .
- نظم په نثر واړولای شي .
- ځینې لیک ننبې وکارولای شي .
- د هجاګانو او تورو تقابل وکولای شي .
- خپلواکې او نا خپلواکې کلمې بیان کړای شي .
- نومونه او د نومونو ځینې ډولونه یې بیان کړای شي .
- د ځینو نومونو مفرد او جمع شکلونه وښودلای شي .
- د ځینو نومونو او کلمو اوښتي او اصلي حالتونه بیان کړای شي .
- ځینې ضمیرونه ، صفتونه او عددونه وښودلای شي .
- فعل ، د فعل زمانې او ځینې نور ډولونه بیان کړای شي .
- مترادفې او متضادې کلمې وښودلای شي .
- مختاړي او وروستاړي وښودلای شي .
- قید وښودلای شي .

قافیه او د قافیې توري وښودلای شي .

د ربط کلمې (ادوات) وښودلای شي .

د کتاب مخونه : ۱۲ ـ ۱۳

عنوان : زمونږ د پیغمبر اخلاق

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې ولیکلای شي .
- متضادې او مترادفې کلمې وښودلای شي .
- ماضي فعل وښودلای شي .
- د حضرت محمد (ص) د اخلاقو په باره کې معلومات وویلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۹

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د حضرت پیغمبر (ص) په باره کې چې یې څه زده وي ویې وایي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي/ ښوونکی د کتاب د [۱۲] مخ پر متن کار کوي .
- په دریم پړاو کې ښوونکی پر تخته یو شمېر کلمې لاندې باندې لیکي ؛ لکه : کړاو ، بېوزلان ، ژواک ، نظافت ، محبت ، ... ، له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره تختې ته ورشي او د هغو کلمو تر څنګ د هغو هم معنا (مترادفې) کلمې ولیکي . که وخت و ، یو شمېر نور زده کوونکي دې په نوبت سره هرې کلمې ته یوه یوه لنډه جمله ولیکي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو د متن څېنې برخې لولي او ورځخه داسې څو پوښتنې کوي :
  - الله جل جلاله خپلو بنده ګانو د هدایت او لارښوونې له پاره څوک را استولی دي ؟
  - حضرت محمد (ص) د څخه ډول زړه او طبیعت خاوند و ؟
  - له لویو او وړو سره د حضرت محمد (ص) چار چلند څه ډول و ؟

کورنی کار : هر زده کوونکی دې لس لس مترادفې کلمې ولیکي .

۲ ـ درسي پلان : ۲۰

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی له خپل نوښت څخه کار اخلي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب د [۱۳] مخ پر متن کار کوي .
- دريم پړاو کې ښوونکی لاندې کلمې پر توره تخته لاندې باندې ليکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې د هغو په مقابل کې د هغو ضدکلمې وليکي .

لوی ، لوړه ، مينه ، ژوند ، زورور ، دښمن ، پاکوالی ، امن ، غريب ، صديق

که وخت و ، ښوونکی يو يو زده کوونکی تورې تختې ته ور بولـي ـ د همدغو کلمو څخه يوه يوه کلمه ورته وايي چې په جمله کې يې وکاروي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي . ښوونکی له ځينو زده کوونکو څخه د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د خصلتونو او اخلاقو په باب پوښتنې کوي او ځينو نورو زده کوونکو ته يو شمېر کلمې وايي چې هغوي يې ضد کلمې ووايي .

کورنی کار : هر زده کوونکی دې داسې لس متضادې کلمې وليکي .

۳ ـ درسي پلان : ۲۱

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی له خپل نوښت څخه کار اخلي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د درسي کتاب د [۱۲ ـ ۱۳] مخونو پر متـن تکراراً کار کوي .
- په دريم پړاو کې ښوونکی پر توره تخته ليکي : " منګل پرون ښوونځي ته نه و راغلی . " له يـوه زده کوونکي څخه غواړي چې هغه ولولي . له بل څخه پوښتنه کوي : " منګل کله ښوونځي ته نه و راغلی . " هغه به ووايي " پرون " . ښوونکی پوښتنه کوي : " پرون په کومې زمانې / کوم وخت پورې اړه لري ـ حال ، مستقبل / راتلونکی او که ماضي يا تېرې زمانې پورې ؟ " زده کوونکي وايي : په تېرې زمانې پورې " بيا ښوونکی د نتيجې په ډول لاندې تعريف پر توره تخته ليکي ؛ پر زده کوونکو يې لولي ـ زده کووکي يې کتابچو ته نقلوي .

هغه فعلونه چې په تېره زمانه کې د يوه کار په کولو دلالت کوي ، ماضي فعلونه دي .

ورپسې ، زده کوونکي په ګروپونو ویشل کېږي . هر ګروپ ته دمتن ببل ببل پاراګرافونه / ببلې ببلې برخې سپارلې کېږي چې ورځخه ماضي فعلونه را وباسي او په کتابچو کې يې وليکي . د ګروپونو مشران د خپلو کارنو نتيجې ټولګې ته لولي .

زده کوونکي / ښوونکی مرسته او سمونې کوي.

- په ځلورم پراو کې ښوونکی له زده کوونکو څخه د متن (زموږ د پيغمبر اخلاق) د مترادفو کلمو ، متضادو کلمو او ماضي فعلونو په هکله پوښتنې کوي .

د کتاب مخونه	: ۱۴ ــ ۱۵ ــ ۱۶
عنوان	: ونې او بټې
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي بايد :

- د تصويرونو په باره کې خبرې وکړای شي .
- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
- د متن کلمې په جملو کې وکارولای شي .
- د مؤنثو او مذکرو نومونو د جمعې اصلي حالت وښودلای شي .
- د ونو او بوټو اهميت بيان کړای شي .

۱ ـ درسي پلان ۲۲

د تدريس طريقه :

- په لومړي پراو کې ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د [۱۴] مخ تصوير وګوري او په نوبت سره د هغه به باب خبرې وکړي .
- په دوهم پراو کې زده کوونکي او ښوونکی د درسي کتاب د [۱۴] مخ پر متن کار کوي .
- په دريم پراو کې زده کوونکي په [الف] او [ب] ګروپونو ويشل کېږي . د [الف] ګروپ اوښتي حالتونه او د [ب] ګروپ د جمعې ټول اصلي حالتونه لست کوي . دګروپونو مشران په نوبت سره دخپل ډله ييز کار نتيجې ټولګيوالو ته پر توره تخته وړاندې کوي . زده کوونکي بحث او سمون کوي . بيا يو ګروپ د بل ګروپ د لست کړو نومونو د جمعې اصلي يا اوښتي حالتونه د کلمو په مقابل کې ليکي . زده کوونکي / ښوونکی بحث او سمون کوي . که زده کوونکي وغواړي کتابچو ته يې نقلوي .

د الف ګروپ		د ب ګروپ
د ساکښو	ـ ساکښ	ونې ـ د ونو
د ونو	ـ ونې	بوټي ـ د بوټو
د بوټو	ـ ...	نعمتونه ـ
له ودانيو	ـ ...	ګټې ـ
د درملو	ـ ...	

ـ په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او ورځخه ځینې پوښتنې کوي . ښوونکی د ځینو مذکرو او مونثو نومونو د جمعې اوښتي شکلونه وایي . زده کوونکي یې اصلي شکلونه ښیي .

کورنی کار : د [۱۴] مخ په تصویر کې چې زده کوونکي څه شیان وپېژني د هغو نومونو دې په خپلو کتابچو کې ولیکي .

۲ ـ درسي پلان ۲۳

د تدریس طریقه :

ـ په لومړي پړاو کې ، د کورنیو کارونو تر کتلو وروسته ، ښوونکی زده کوونکو ته وخت ورکوي چې د درسي کتاب د [۱۵] مخ په باب خبرې اترې وکړي او د [۱۴] مخ له تصویر سره یې توپیر وښیي .

ـ په دوهم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو ویشي . د هر ګروپ له پاره د مذکرو او مونثو نومونو د مفرد او جمعې اصله او اوښتي شکلونه پر توره تخته لیکي او دنده ورکوي چې په خپلو کې تر مشورې / بحث وروسته هر یوه ته یوه یوه جمله جوړه کړي او ویې لیکي . مثلا یوه ګروپ ته دغه نومونه / کلمې پر توره تخته لیکي : ونه ، ونې ، ونو ، باغ ، باغونه ، باغونو او همدغسې نورو ګروپونو ته لستونه ورکوي .

ـ په څلورم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي د متن د لوستلو ، لغتونو ، مطلب او د مذکرو او مونثو نومونو د اصلي او اوښتي شکلونو د پوهې په ارتباط ارزیابي کوي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د [۱۴] او [۱۵] مخونو د تصویرونو د توپیرونو په باره کې دري / څلور جملې ولیکي .

۳ ـ درسي پلان : ۲۴

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنيو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی / زده کوونکي پر دوو برخو وېشي او لارښوونه ورته کوي چې لومړی د [۱۶] مخ تصوير په غور وګوري . بيا دې يو ګروپ له بل څخه د تصوير د محتوا په باره کې پوښتنې وکړي او ځوابونه دې ووايي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د درسي کتاب د [۱۶] مخ پر متن کار کوي . بيا يو زده کوونکی د [۱۴] بل د [۱۵] او درېم د [۱۶] مخ متن يو په بل پسې لولي .
- په درېم پړاو کې زده کوونکي پر څو ګروپونو وېشل کېږي . هر ګروپ د ونو او بوټو د ګټې پر ارزښت او اهميت باندې خبرې سره کوي او پر يوه ټوټه کاغذ يې ليکي . د ګروپونو مشران د خپلو کارونو نتيجې ټولګيوالو ته لولي . که وخت وۍ ، د کوم ګروپ کار چې نسبتاً ښه او مکمل وي ، ښوونکی هغه د املا په توګه وايي او زده کوونکي يې په خپلو کتابچو کې ليکي . که ښوونکي مناسبه ګڼله ، زده کوونکي دې يو بل ته کتابچې وړکړي چې په کور کې د کورنيو کار په توګه يو د بل املا اصلاح کړي .
- په څلورم پړاو کې دې د دوهم پړاو د موضوع او فعاليتونو ارزيابي وشي .

د کتاب مخونه : ۱۷ ـ ۱۸

عنوان : لويه جرګه

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
- د متن د ځينو کلمو په مرسته نيمګړې جملې بشپړې کړای شي .
- ماضي فعلونه وښودلای شي .
- د لويې جرګې د ضرورت او اهميت په باره کې خبرې وکولای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۲۵

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی وايي : " د چا په ياد دي چې د [سوله] په نامه لوست کې ، خيرګل د هغو دوو کورنيو مساله چې شخړه يې لرله څنګه هواره کړه ؟ " زده کوونکي به ځوابونه ووايي . که

چېرې موضوع ورځخه هېره وه ، ښوونکـی دې ورتـه لارښوونـه وکـړي چـې د کتـاب [۸] او [۹] مخونه په ځغلنده نظر وګوري او بيا دې د سوال ځواب ووايي . ښوونکی د ځوابونو په پـای کې وايـي چې زمونږ ننني درس هم د جرګې په باره کې دی .

- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د درسي کتاب د [۱۷] مخ پر متـن د وروسـتی کرښې تر [. . . اړه ولري .] عبارت پورې کار کوي .
- په دريم پړاو کې ښوونکی د تورې تختې يوې خواته دا لاندې نيمګړې جملې او بلې خواته يـې کلمې په چوکاټ کې ليکي . دري دري نيمګړې جملې پر ډلو وېشي چې د چوکاټ د کلمو په کـارولو سره يې زده کوونکي پوره کړي .

سيمه ييزې
لويه جرګه
مساله
مشران
جرګو ـ مرکو
تاريخ
مرکز
بحثونه
پوښتنه

۱ ـ د . . . له ښوونکي څخه چا پوښتنه وکه ؟
۲ ـ لويې جرګې زياتره د هېواد په . . . کې جوړېږي ؟
۳ ـ . . . څه وخت جوړېږي ؟
۴ ـ افغانستان د . . . وطن دی .
۵ ـ د جرګو له پاره زياتره . . . سره راټولېږي .
۶ ـ لويه جرګه له . . . جرګې سره فرق لري .
۷ ـ کلمه چې څه . . . يـ ستونزه پېښه شي مشران جرګه کوي .
۸ ـ په جرګو کې پر ستونزو . . . کېږي .
۹ ـ زمرک د تاريخ له ښوونکي څخه . . . وکړه .

زده کوونکي د تختې جملې کتابچو ته نقلوي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر ځينو زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي . د هغه په باره کې ورځخـه ځنې پوښتنې کوي ؛ لکه :
  - زمرک بېګاه په خېرونو کې څه اوزېدلي وو ؟
  - د تاريخ ښوونکي زمرک ته څه وويل ؟

کورنی کار : څو کلمې زده کوونکو ته ورکړلې کېږي چې مناسبې جملې ځنې جوړې کړي ؛ لکه : جرګه ، نه ، زمرک ، پېژندله ، لويه .

۲ ـ درسي پلان ۲۶

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنيو ګارونو تر کتلو وروسته ښوونکی پوښتنه کوي : " مور څو ډوله جرګې لرو ؟ " زده کوونکي ځوابونه وايي او بحث کوي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د [لويه جرګه] د متن پر پاتې برخه کار کوي .
- په دريم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو وېشي . يوې ډلې ته دنده ورکوي چې د " لويې جرګې" او بلې ډلې ته دنده ورکوي چې د " کليوالي جرګې" په باب خپل معلومات وليکي .
- په ځلورم پړاو کې ښوونکی پر ځينو زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي او ور څخه پوښتنې کوي ؛ مثلاً :
  - په لويه جرګه کې څوک ګډون کوي ؟
  - زمور په وطن کې پخوا هم کله لويه جرګه جوړه شوې ده ؟

کورنی کار : زده کوونکي دې د درس په دريم پړاو کې ليکل شوې مقالې پاکنويس کړي .

۳ ـ درسي پلان ۲۷

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی په خپل نوښت کار کوي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب په [۱۷ ـ ۱۸] مخونو تکراراً کار کوي .
- د دريم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی يوه جمله پر توره تخته ليکي ؛ مثلاً : احمد پرون بازار ته تللی و . له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي : احمد بازار ته کله تللی و ؟ زده کوونکي وايي : [پرون] ښوونکی وايي : پرون په کومې زمانې پورې اړه لري ـ تېر ، حال او که راتلونکي ؟

هغې کلمې ته چې په تېره زمانه کې د يوه کار په کولو دلالت کوي ماضي فعل ويل کېږي .

د همدې پړاو په دوهم ګام کې ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو وېشي . يو ګروپ د متن د لومړي او بل د دوهم مخ ماضي فعلونه لست کوي . که وخت و ، ځينې کلمې په جلمو کې کاروي .

- په ځلورم پړاو کې ښوونکی پر ځينو زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي او پوښتنې کوي ؛ مثلاً : " ماضي فعلونه کوم فعلونه دي ؟ مثالونه يې ووياست . د دې متن مطلب څه دی ؟ دا متن مور ته څه پيغام را کوي . "

د کتاب مخونه : ۱۹ ـ ۲۱

عنوان : مطالعه

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يي وويلای شي .
- غلطې جملې سمې کړای شي .
- امري فعلونه وښودلای او امري جملې جوړې کړای شي .
- د تصويرونو او متن د رابطې په باره کې خبرې وکړای شي .
- د مطالعې داصولو د ارزښت په باره کې خبرې وکولای شي .

۱ ـ درسي پلان ۲۸

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب د [۱۹] مخ د تصوير او په تصوير کې د شوي فعاليت په باره کې خبرې وکړي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب له [۱۹] مخ څخه د [۲۰] مخ د پنځمې کرښې تر پايه پورې پر متن کار وشي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی څو غلطې جملې پر تخته ليکي ؛ مثلاً :

الف ـ څوک ښه کاره سړی مې څنګ ته ورغی .

ب ـ تر کتاب ښه ملګری بل نشته .

ج ـ زياته تياره هم د سترګو ديد خرابوي .

د ـ پر کتاب او کتابچه ور ټپټپدل روغتيايي تاوانونه لري

د همدې پړاو په دوهم ګام کې زده کوونکی دغه غلطې جملې کتابچو ته رسوي او په خپلو منځو کې تر بحث وروسته ورلاندې د هغو سم شکلونه ليکي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر ځينو زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي او پوښتنې کوي :

الف ـ د ليکلو او لوستلو په وخت کې بايد رڼا له کوم لورې رڼا را ورسېږي ؟

ب ـ عالم ښه کاره سړي ته څه ويل ؟

کورنی کار : زده کوونکي دې د [۱۹] مخ د تصویر په باره کې دري څلور جملې ولیکي او ماضي فعلونه دې په کې وکاروي .

۲ ـ درسي پلان : ۲۹

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنیو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب د [۱۹] مخ او [۲۰] مخونو د تصویرونو د توپیرونو او ورته والي په باره کې خبرې وکړي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د [۲۰] او [۲۱] مخونو د متن پر پاتې برخو کار کوي .
- په دریم پړاو کې ښوونکی پر توره تخته لیکي : "احمد اکا خپلو اولادونو ته وویل چې تکړه شئ ـ کار وکړئ . " ښوونکی وایي : "احمد اکا له خپلو زامنو څخه غوښتنه وکړه او که حکم / امر یې وربانديې وکړ زده کوونکي وایي : " امر / حکم " .

هغه فعلونه چې د یوه کار په کولو حکم کوي ، امري فعلونه دي .

ښوونکی د زده کوونکو له ډلو څخه غواړي چې یوه یې له [۱۹] او بله یې د [۲۱] مخ څخه امري فعلونه را وباسي :

وکړئ ، ولولئ ، مه لیکئ ، کښینئ ،

واخلئ ، ور واړوئ ، مه خوځوئ . . .

* د ښوونکي له پاره : د پښتو په محاوره کې " امر " او غوښتنه " د جوړښت له مخې توپیر نه لري . توپیر یې یو په ټون او آهنګ کې دی او بل په کلتوري اساس کې یعنې که یو مشر له کشر څخه د یوه کار د کولو غوښتنه وکړي نو وایو چې امر یې وربانديې وکړ .

- څلورم پړاو د پخوانیو درسونو په شان سرته رسېږي .

کورنی کار: زده کوونکي دې د مطالعې داصولو یا ارزښت په باره کې یو ، یو پاراګراف ولیکي .

۳ ـ درسي پلان : ۳۰

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی له خپل نوښت څه کار اخلي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د [۱۹ ، ۲۰ ، ۲۱] مخونو پر متن یو ځل بیا کار کوي .

- په درېم پړاو کې ښوونکی په متن کې راغلي امري فعلونه پر توره تخته په ستوني شکل لیکي . څو څو فعلونه ډلو ته سپاري او ورځخه غواړي چې د هر امري فعل له پاره یوه یوه امري جلمه ولیکي .

وکړئ : پام وکړئ چې کتابونه مو در څخه خراب نه شي .
مه لولئ : هغه څه مه لولئ چې فایده نه لري .
ولیکئ :
کښېنئ :
واخلئ :
ور واړوئ :
مه خوځوئ :

- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او د دې درس د هدفونو په نظر کې نیولو سره ورځخه ځینې پوښتنې کوي .

کورنی کار : زده کوونکي دې خپلو ملګرو ته یو لنډ لیک ولیکي او امري فعلونه دې په کې وکاروي .

د کتاب مخونه : ۲۲ـ۲۳
عنوان : د سترګو ساتنه
د درسونو شمېر : ۲
هدفونه : زده کوونکي باید :
• متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي .
• د نومونو جمع اومفرد شکلونه وښودلای شي .
• د سترګو قدر او قیمت بیان کړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۳۱

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنیو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی وایي : " تاسو د [مطالعه] په نوم درس ولوست . په نوره مضمونونو کې به موهم د سترګو په باره کې څه خامخا لوستي / زده کړي وي ، په نوبت سره د سترګو د اهمیت او ساتنې په برخه کې څومره چې پوهېږئ د ټولګي په وړاندې نورو ته ووایئ ."

د کتاب په متن کې د ژبنیو مهارتونو د ودې له پاره ځانګړې عنوانونه او موضوعګانې نه دي راغلي . ټول هغه مهارتونه چې د دې کتاب د تعلیمي پروګرام او د هر درس له هدفونو سره سم باید وده وکړي ، په لاړښود کې په واضحه توګه معرفي شوي دي .

۲. غیر ژبني هدفونه (مفهومونه) :

په دې کتاب کې دغه لاندې موضوعګانې اومفهومونه راغلي دي :

- **دیني موضوعګانې** : له دې املې چې د ټول کتاب په لیکلو کې داسلام د سپېځلي دین ارزښتونه اوروحیه په نظر کې نیول شوې ده ، نو ددیني او نورو موضوعګانو سره ېبلول ، په قاطع ډول ، یوناشونی کار دی . دلته ټول اخلاقي او بشري مسایل د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې څېړل شوي دي .
- **حمد ، نعمت او سیرت** : پاکه ربه ! ، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ، زموږ د پیغمبر (ص) اخلاق.
- **بشري او ټولنیزې موضوعګانې** : د انسان مقام، عدل ، ایثار ، ښاري ژوند ، نظم او سمون .
- **اخلاقي ارزښتونه** : دمور او پلار درناوی، د ښوونکي درناوی ، رښتینولي ، وینا او عمل ، خپل کار په خپله کول ، برکتي پیسې ، تقوی ، بې احتیاطي ، امانتداري ، ښه کار ، اخلاص .
- **علم اوپوهه** : د علم مېوه ، مطالعه ،کتابتون ، کتاب وایي ، د معارف ترانه ، د رخصتی ورځې.
- **افغانولي او وطندوستي** : ای هېواده ،لویه جرګه ، ملي وحدت ، وطنه ، د وطن ساتنه ، نو روز ، دوستي .
- **سوله او امن** : سوله .
- **له مخدره موادو څخه ډډه کول** : د تماکو ضررونه .
- **روغتیا** : د سترګو ساتنه، نرې رنځ ، ماینونه .
- **ساینس او ټکنالوژي** : راډیو ، الوتکه، بربښنا ، ماشینونه .
- **کرنه او مالداري** : دهقاني ، چرګان .
- **کسب او کار** : لاسي صنایع ، کار .
- **د چاپېریال ساتنه** : وڼې او بوټي ، پاکه هوا ، د چاپېریال پاکوالی .

- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د [۲۲] مخ پر متن کار کوي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو وېشي . يوه ګروپ ته وايي چې د همدې مخ له متن څخه د نومونو د جمعې شکلونه را وباسي او په مقابل کې يې د هغه مفرد شکل وليکي . بل ګروپ ته وايي چې له متن څخه د نومونو مفرد شکلونه را وباسي او په مقابل کې يې د جمعې شکل وليکي . که وخت و ، دواړه ګروپونه دې د هرې کلمې له پاره يوه يوه جملې هم وليکي .

* د ښوونکي له پاره مثالونه :

الف ګروپ		ب ګروپ
سترګې : سترګه	-	کسب : کسبونه
رنګونه : رنګ		کار : کارونه
... : ...		... : ...

- په څلورم پړاو کې ښوونکی د تېرو لوستونو د څلورم پړاو د غوښتنو په اساس کار کوي .

۲ ـ درسي پلان : ۳۲

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی يوه لطيفه وايي ؛ مثلا : " د يوه سړي نس جوړېده ډاکټر ته ورغی ، هغه ورځخه د شپېنيو خوړو په باره کې پوښتنه وکړه چې څه يې خوړلي . ده ورته وويل چې سوې ډوډۍ يې خوړلې ده . ډاکټر ورته وويل چې ور ځه اول دې د سترګو علاج وکړه ." بيا پوښته کوي چې د دې لطيفې او مطلب څه شی دی ؟
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب د [۲۳] مخ پر متن کار کوي او د دې پړاو په وروستيو شېبو کې پر يوه / دوه زده کوونکي د [۲۲] او [۲۳] مخونو متنونه يو ځل بيا (پر له پسې) لولي او پرتې کار کوي .
- په درېم پړاو کې زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته راځي او د ټول متن لنډيز په خپله ژبه وايي . که وخت و ، ښوونکی زده کوونکي پر دوو ډلو وېشي ؛ يو له بل څخه يې لرې کښېنوي او لارښوونه ورته کوي چې هره ډله به د خپل مشر وينا / املا ته غوږ نيسي . د يوې ډلې مشر ته دنده ورکوي چې د ۲۳ مخ دوهم پاراګراف د املا په توګه ووايي . بيا د لومړۍ ډلې کتابچې دوهمې ډلې د دوهمې ډلې کتابچې د لومړۍ ډلې زده کووکو ته ورکول کېږي چې د کتاب له مخې يې املا سمه کړي .
- په څلورم پړاو کې د درس د موضوع او هدفونو په نظر کې نيولو سره کار کېږي .

د کتاب مخونه : ۲۴ ـ ۲۵

عنوان : فاطمه الزهرا رضی الله عنه

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې وویلای شي .
- د متن لنډیز په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي .
- د فاطمه الزهرا (رض) د ژوند په باب معلومات وویلای شي .
- صفتونه او خاص نومونه وښودلای او په جملو کې وکارولای شي .

۱ . درسي پلان ۳۳

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی وایي : "په مسلمانانو کې ډېرې پاک لمنې بیبیانې تېرې شوي دي . که څوک یې پېژني نومونه یې دي واخلي او د هغوی په باب دې خپل معلومات ووایي ." د نومونو د اخیستلو په ضمن کې ګوندې د بي بي فاطمي (رض) نوم هم واخلي چې زمونږ ددرس.موضوع ده . که یې وانه خیست په خپله ښوونکی دې ځینې نومونه واخلي ؛ لکه : بي بي فاطمه ، بي بي عایشه ، . . . .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکی او ښوونکي د کتاب د ۲۴ مخ پر متن کار کوي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی پر توره تخته یوه داسې جمله لیکي چې صفت او خاص نوم دواړه په کې راغلي وي ؛ مثلاً : "بي بي فاطمه ډېره سخي ښځه وه" زده کوونکي جمله لولي ښوونکی پوښتنه کوي : " څوک سخي ښځه وه ؟" زده کوونکي وایي : " بي بي فاطمه." ښوونکی پوښتنه کوي : "سخي چا ته ویل کېږي ؟" بیا پوښتنه کوي چې په دې جمله کې نوم او صفت کوم کوم دی ؟ بیا ښوونکی پر توره تخته لیکي :

صفتونه هغه کلمې دي چې د نومونو څرنګوالی بیانوي .
خاص نومونه هغه نومونه دي چې پر یوه خاص شخص ، شي یا ځای دلالت کوي .

زده کوونکي یې کتابچو ته نقلوي .

که وخت و ، ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو وېشي . یوه ګروپ ته له متن څخه د صفتونو او بل ته د خاصو نومونو د لیکلو لارښوونه کوي .

صفتونه	خاص نومونه
حضرت	فاطمه الزهرا رضی الله عنها
بي بي	محمد صلی الله علیه وسلم

- په څلورم پړاو کې دتېرو لوستونو په شان کار کې‌ږي .

۱ ـ درسي پلان : ۳۴

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی له خپل نوښت څخه کار اخلي .
- په دوهم پړاو کې دکتاب د [۲۵] مخ پر متن کار کوي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي پر دوو ډلو وېشي او هرې ډلې ته دا لاندې سوالونه ورکوي چې په خپلو کې سره مشوره / بحث وکړي او بیا هر یو د هغو ځوابونه په خپلو کتابجو کې ولیکي .

لومړی ګروپ	دوهم ګروپ
ـ خاص نوم څه ته وایي ؟	ـ صفتونه څه ته وایي ؟ مثالونه یې ورکړئ .
ـ بي بي فاطمه الزهرا (رض) څوك وه ؟	ـ حضرت علي کرم الله وجهه څوك و ؟
ـ اولادونه یې څه نومېدل ؟	ـ بي بي فاطمې (رض) په کوچنیوالي کې له نورو ماشومانو څخه څه توپیر درلود ؟

- څلورم پړاو د تېرو لوستونو په شان سرته رسې‌ږي .

د کتاب مخونه : ۲۶

عنوان : ملي وحدت

د درسونو شمیر : ۳

هدفونونه : زده کوونکي باید :

- متن (نظم) د شعر په لهجه ولوستلای شي .
- د متن مطلب په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي .
- قافیه وښودلای شي .
- د ملي وحدت په باره کې خبرې وکولای شي .

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی وايي : "دهغې کورنۍ / کلي / وطن په باره کې يو څه ووايئ چې خلك يې په اتفاق وي . يا د اتفاق / نفاق په باره کې يوه کيسه يا فکاهي ووايئ ."
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د درسي کتاب د ۲۶ مخ د شعر پر لومړيو لسو بيتونو د [۱ ـ درسي پلان : ۱۱] د دوهم پړاو په شان کار کوي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی پر توره تخته يو بيت ليکي ؛ مثلاً :

ځينې جګې ، ځينې ټيټې کوز او پاس وې
لکه ګوتې د يـــوه وجـــود د لاس وې

زده کوونکي / ښوونکی بيت مسره مسره لولي . ښوونکی پوښتنه کوي : " د بيت د دواړو مسرو د آخريو برخو يا کلمو آوازونه ستاسې پر غوږونو څنګه لګېږي / څنګه اورئ ؟" زده کوونکي وايي : " د بيت د دواړو مسرو د وروستيو کلمو زمونږ پر غوږونو يو ډول لګېږي . " ښوونکی پوښتنه کوي : " د بيت د دواړو مسرو په آخر کې راغلي مختلفې کلمې کومې کومې دي ؟ " زده کوونکي وايي : " [پاس] او [لاس] " . ښوونکی پوښتنه کوي : " په [پاس] او [لاس] کې کوم توري شريك او هم غږه دي ؟ " زده کوونکي وايي : " [ا] او [س] . "

د همدې پړاو په دوهم ګام کې زده کوونکي پر دوو ګروپونو ويشل کېږي .

هر ګروپ د پنځو ، پنځو بيتونو د قافيو د کلمو لست برابروي .

د بېلا بېلو مسرو يا بيتونو په آخر کې دمختلفو کلمو يو رنګ يا شريك غږ لرونکو برخو ته د شعر قافيه وايي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر ځينو زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي .
- ښوونکی يو ، يو بيت وايي او له ځينو زده کوونکو څخه يې معنا او توضيح غواړي . ښوونکی يوه يا دوه کلمې وايي او له زده کوونکو څخه يې هم قافيه کلمې او د هغوی هم آهنګه توري غواړي .

کورنی کار : زده کوونکي دې لوستل شوي بيتونه په ياد کړي .

۲ ـ درسي پلان ۳۶

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی د درس عنوان [ملي وحدت] پرتخته ليکي . له يو څو زده کوونکو څخه غواړي چې لوستل شوی شعر له ياده او په ښه آواز لهجه ووايي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د درسي کتاب د ۲۶ مخ د شعر پر پاتې برخه کار کوي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د [درسي پلان : ۳۵] د درېم پړاو په شان کار کوي .
- ښوونکی يوه ګروپ ته ليکي : [ولسونه په وطن کې] بل ګروپ ته ليکي : [اوسېدونکي د يوه کور وي] .

او ورته وايي چې د دې مسرو له پاره څومره چې کولای شي هم قافيه مسرې ولټوي او وليکي ؛ مثلاً : د لومړي له پاره : محفلونه په چمن کې ، چراغونه په چمن کې يا يو زخمونه په بدن کې ، انګازې د غرو لمن کې .

د دوهم له پاره : دوی ساتونکي د يو کور وي ، ورانونکي د يو کور وي يا ډېر خوا خوړې لکه ورور وي ، غالمغال او هلته شور وي .

۳ ـ درسي پلان ۳۷

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی يو يا دوه زده کوونکي پاڅوي چې د شعر وروستي اووه بيتونه له ياده او په ښه آواز ووايي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د درسي کتاب د ۲۶ مخ پر ټول متن تکراراً کار کوي .
- په درېم پړاو کې زده کوونکي پر درې ګروپونو باندې ويشل کېږي . لومړی ګروپ لومړنی ٦ بيتونه، دوهم ګروپ ورپسې ۷ بيتونه او درېم ګروپ وروستني ۴ بيتونه په نثر اړوي / ليکي.

په ځلورم پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي : "په شعر کې د څه شي کيسه شوې ده او څنګه شوې ده ؟ د باغوان يا مالیار سلوک له باغ سره څنګه و ؟ له باغ او باغوان څخه مطلب څه شی دی "

د کتاب مخونه : ۲۷ ـ ۳۰

عنوان : دا څه شی دی ؟

ددرسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي .
- په متن کې راغلي ماضي او حال فعلونه وپېژندلای شي .
- چیستان وپېژندلای او معنا کړای شي .

۱ـ درسي پلان : ۳۸

دتدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنه کوي : " چیستان ، دوښ یا اړ څه ته وایي ؟ "
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب پر متن د ۲۷ مخ څخه د ۲۸ مخ تر اوومې کرښې [. . . حل پدا کوو] پورې کار کوي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی یو زده کوونکی ور غواړي چې د چیستان په باره کې خبرې وکړي . په دې ترڅ کې ښوونکی له نورو زده کوونکو څخه پوښتنه کوي : " د چیستان په باره کې څوک خبرې کوي ؟ " زده کوونکي وایي : " احمد . " ښوونکی وایي : " کله یا څه وخت خبرې کوي ؟ " زده کوونکي به وایي : " دا اوس لګیا دي . " ښوونکی وایي : " خبرې کول څه شی دی ؟ " زده کوونکي به وایي : "یوکار." ښوونکی تر بحث او خبرو وروسته پر توره تخته لیکي .

هغو فعلونو ته چې په حال / اوس (روانه / جاري) زمانه کې د یوه کار په کولو دلالت کوي د حال فعلونه ویل کېږي .

زده کوونکي یې لولي او کتابچو ته یې رسوي .

د همدې پړاو په دوهم ګام کې ښوونکی د زده کوونکو دوو ډلو ته دنده ورکوي چې لومړی یې په لومړیو دوو پاراګرافونو کې او دوهمه یې د لوستل شوي متن په پاتې برخه کې د حال فعلونه پیدا او په خپلو کتابچو کې ولیکي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی په ځینو زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او ور څخه پوښتنې کوي:
  - چیستان یا دوښ څه ته وایي ؟
  - د چیستانونو لوبه څنګه کېږي ؟
  - د حال فعل څه ته وایي ؟

کورنی کار : زده کوونکي دې د راتلونکي درسي ساعت په پاره يو يو ليکلی چيستان له ځان سره راوړي.

۲ ـ درسي پلان ۳۹

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنيو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی پر تخته ليکي : " دا څه شی دی ؟ "
" په زور او زېر غږيږي ، نه يې خوله شته نه يې ژبه ـ نه يې نيسي کله تبه . "
زده کوونکي يو له بله سره خبرې / بحث کوي او ځواب پيدا کوي : [کتاب] .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د ۲۸ مخ له درېم پاراګراف [موږ يې وويل:] څخه د ۲۹ د اتمې کرښې تر پای [. . . ژوند په هوا کې لري .] پورې پر متن کار کوي .
- درېم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی له يوه زده کوونکي څخه غواړي چې يو چيستان ووايي . ښوونکی له نهو نورو زده کوونکو څخه پوښتنه کوي : " چيستان چا ووايه ؟" زده کوونکي وايي : " محمود ووايه . " ښوونکی وايي: " کله يې ووايه ؟ " زده کوونکي وايي : " اوس يې ووايه . " ښوونکی وايي : " اوس کله؟ " زده کوونکي وايي : "لږ مخکې . " ښوونکی وايي : " [لږ مخکې] په کومې زمانې پورې اړه لري ــ حال ، استقبال او که ماضي ؟ " زده کوونکي وايي . " په ماضي يا تېرې زمانې پورې . " ښوونکی پر توره تخته ليکي :

هغه فعلونه چې په تېره زمانه کې د يوه کار په کولو دلالت کوي ، ماضي فعلونه دي .

- د همدې پړاو په دوهم ګام کې د زده کوونکو دوو ډلو ته دنده ورکول کېږي چې په لوستل شوي متن کې د ماضي فعلونه پيدا او په کتابچو کې وليکي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر ځينو زده کوونکو دمتن ځينې برخې لولي او ور څخه پوښتنې کوي :
  - ښاپېرۍ څنګه وپوهېدله چې له [وچ کلك له کولمو ډك] څخه مراد [پوزی] دی ؟
  - ښاپېرۍ څنګه وپوهېده چې له [چې ځم را سره ځي ، چې نه ځم نه ځي] څخه مراد [سيوری] دی ؟
  - ماضي فعل څه ته وايي ؟

کورنی کار : زده کوونکي دې په کتابچو کې د رسېدليو درېو دريو ماضي فعلونو له پاره يوه يوه جمله وليکي .

۳ ـ درسي پلان : ۴۰

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنيو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی وايي چې دا څه شی دی ؟ او پرتخته يې ليکي :

  شپږ يې پوندې دي لکۍ ، ملا کې لري
  دوه يې دي پښې ، ژوند په هوا کې لري
  زده کوونکي خبرې / بحث کوي او ځواب وايي .

- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د ۲۹ مخ له دوهم پاراګراف [ملوك وويل :] څخه د ۳۰ مخ تر پايه پورې پر متن کار کوي .

  په څو زده کوونکو ، د يو ځل له پاره ، ټول متن له سر څخه تر پايه پورې لوستل کېږي .

- په درېم پړاو کې زده کوونکي په دوو ګروپونو ويشل کېږي د يوه ګروپ زده کوونکي به په نوبت سره يو يو چيستان وايي . د بل ګروپ زده کوونکي به يې په خپل وار ځواب وايي . يا د يوه ګروپ زده کوونکي به په نوبت سره د متن په باره کې پوښتنې کوي . د بل ګروپ زده کوونکي به يې ځوابونه وايي .

- په څلورم پړاو کې پر ځينو زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي او له ځينو نورو څخه د متن په ارتباط پوښتنې کوي .

د کتاب مخونه : ۳۱ ـ ۳۲

عنوان : حضرت عثمان رضی الله عنه

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
- ارتباطي کلمې او قيدونه وښودلای شي .
- د حضرت عثمان (رض) په هکله معلومات ورکړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۴۱

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنه کوي : " څوك به د پيغمبر (ص) د څلورو يارانو نومونه واخلي ؟
- د مسلمانانو درېم خليفه څوك و ؟ د حضرت عثمان(رض) په باب کـه څوك څه معلومات لـري ويې دي وايي . "
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب د ۳۱ مخ پر متن د دوهم پاراګراف تر پای (وړيا ووښلـه) پورې کار کوي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی پر تـوره تخته يـوه جملـه ليکي ؛ مثلاً :" لـه کور څخـه تـر ښوونځي پورې يو کيلو متر لاړ ده . " او لـه يـو زده کوونکي څخه غـواړي چې دغـه جملـه پر خپلـو اجزاوو ووښي ؛ لکه : له ، کور ، څخه ، تر ، ښوونځي ، پورې ، يو ، کيلو متر ، لاړ ، ده . بيا لـه نورو زده کوونکو څه غواړي ، هغه کلمې چې خپلواکې معناګانې نه لري ، له خپلواکو معنا لرونکو کلمو څخه ېېلې کړي :

نا خپلواکې کلمې : لـــه ، څخه ، تـــر ، پـــورې ، ده

خپلواکې کلمې : کور ، ښوونځی ، يو ، کيلو متر ، لاړ

ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې له خپلواکو معنا لرونکو کلمو څخه يـوه او لـه نـا خپلواکو معنا لرونکو کلمو څخه بله جمله جوړه کړي . وبه ليدلای شي چې دا کار ناشونی دی .

بيا ښوونکی پر تـوره تخته ليکي :

هغه کلمې چې خپلواکې معناګانې نه لري او د جملو په جوړولو کې کار ورکوي ، ارتباطي کلمې بلل کېږي .

زده کوونکي يې لولي او کتابچو ته يې رسوي .

د همدې پړاو پـه دوهم ګام کې زده کوونکو تـه دنده ورکـول کـېږي چې لـه لوسـتل شوي متـن څخه ارتباطي کلمې را وباسي او په نوبت سره يې ټولګي ته ولولي .

* د ښوونکي له پاره : د ، تر ، او ، له ، په ، نو ، ته ، له پاره ، کې ، چې ، پر .

- په څلورم پړاو کې دې ښوونکی پر ځينـو زده کوونکـو د متـن ځينـې برخـې ولولـي او پوښتنـه دې ورڅخه وکړي :

۱ ـ حضرت عثمان (رض) څه وخت ایمان راوړ ؟

۲ ـ هغه وخت چې د مدینې وګړي د څښلو د اوبو له کمي سره مخامخ وو ،حضرت عثمان (رض) څه وکړل ؟

۳ ـ د حضرت محمد (ص) له وفات څخه وروسته چې په مدینه کې قحطي راغله ، حضرت عثمان رضی الله عنه څه وکړل ؟

۲ ـ درسي پلان : ۴۲

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنه کوي : " حضرت عثمان رضی الله عنه اسلام او مسلمانانو ته څه خدمتونه کړي دي او تر ټولو لویه کار نامه یې کومه یوه ده ؟ "

په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د درسي کتاب د ۳۱ مخ له وروستي پاراګراف څخه د ۳۲ مخ تر پایه پورې پر متن کار کوي .

- د درېم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی پر توره تخته دوه جملې لیکي :

۱ ـ احمد راغی .

۲ ـ احمد په منډه راغی .

ښوونکی پوښتنه کوي : " دا جملې مونږ ته د احمد په باب څه معلومات راکوي ؟ زده کوونکي به ووایي : " د احمد له راتګ څخه مو خبروي ." ښوونکی پوښتنه کوي : " دواړه جملې یوه له بلې څه توپیر لري ؟ " زده کوونکي وایي : " په دوهمه جمله کې [په منډه] زیات دی . "

ښوونکی پر توره تخته لیکي :

هغه کلمه چې دیو فعل د پېښېدلو څرنګوالی بیانوي ، قید بلل کېږي . لکه په پورتني مثال کې چې [په منډه] داحمد د راتګ څرنګوالی ښیي .

زده کوونکي یې لولي او کتابچو ته یې نقلوي .

د همدې پړاو په دوهم ګام کې زده کوونکي په دوو ګروپونو وېشل کېږي . یو ګروپ د متن له لومړي مخ او بل ګروپ له دوهم مخ څخه د قید کلمې را باسي .

د ښوونکي له پاره مثال :

الف ـ ګروپ	ب ـ ګروپ
ډېر ژر	خو را زیات
وړیا	په اتلسمه نېټه

- تغذيه : سابه ، مېوې .
- د شخصيتونو پېژندل : فاطمه الزهرا رضی الله عنها ، حضرت عثمان رضی الله عنه ، نازو انا ، پير محمد کاکړ ، ګل پاچا الفت ، عبدالوکيل خان ، غلام محمد ميمنه ګي ، ابو ريحان البيروني ، عبدالعلي مستغي .
- عمومي معلومات : دا څه شی دی ؟ ، ښه خط ، ورځپاڼه ، دنظر تېر وتنه ، ځيرکي .

د درسي ساعتونو وېش

له دې امله چې د GTZ – COPE د ښوونځيو په تعليمي پلان کې د پنځم ټولګي پښتو هره اونۍ [٦] ساعته تدريسېږي ، که ځيني ضايعات په نظر کې ونيولای شي ، په يوه تعليمي کال [١٨٠] درسي ساعتونه برابرېږي . نو ، د کتاب د ټولا ټيلو موضوعګانو د اغېزمن تدريس له پاره [١٧٠] اساسي او [١٠] تکراري درسونه په نظر کې نيول شوي دي . يعني د دې درسي لارښود تر پنځمه اتيايم او يو سل اويايم درسي پلان وروسته ، په ترتيب سره په څلورو اوشپږو درسي ساعتونو کې به ښوونکی د زده کوونکو د ستونزو اونيمګړتياګانو پر حلولو او لرې کولو کارکوي چې په دې توګه به زده کوونکي د څلورنيم مياشتنۍ او کالنۍ ازموينې له پاره چمتو کېږي .

درسي پلانونه

د مشخصو هدفونو د ترلاسه کولو له پاره ، په يوه درسي ساعت کې ، د درسي موادو په پام کې نيولو سره د ښوونکي او زده کونکو دفعاليتونو ترکيب ته درسي پلان وايي . د درسي پلان کومه محتوا او طريقه چې پر زده کوونکو او درسي موادو متمرکزه ده او په بيفير کې عموميت لري په لاندې ډول ده :

الف – هدفونه :

په ټاکلي درسي واحد / ساعت کې د زده کوونکو مشخصو مهارتونو ، فعاليتونو او تجربو ته وده ورکول ، د تدريس او زده کړې بهير ګړندی کول او اغېزمن کول د درسي پلانونو عمده هدفونه دي . د معلوماتو د لېږدولو ، د فعاليتونو د تنظيمولو ، د زده کړې د طريقو د ښودلو او لارښوونې له پاره دښوونکي او د زده کړې د مطالبو د تطبيق او تعميم له پاره د زده کوونکو فعاليتونو ته او دغه راز ، د تدريس اوزده کړې عمليې ته د عملي او تطبيقي بڼې د ورکولو له پاره درسي موادو ته ضرورت دی .

که وخت و ، زده کوونکي يې په جملو کې کاروي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او ور څخه پوښتنې کوي :
  - حضرت عثمان رضی الله عنه د څه ډول خویونو خاوند و ؟
  - زمونږ هېواد ، افغانستان ، ته داسلام مقدست دین د چا په وخت کې راغلی دی ؟
  - د حضرت عثمان رضی الله عنه ستره کار نامه کومه یوه ده ؟

کورنی کار : د متن ددرېو درېو قېدونو له پاره دې مناسبې جملې ولیکلې شي .

۳ ـ درسي پلان : ۴۳

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې د کورني کار تر کتلو وروسته ښوونکی دمتن د مهمو مطلبونو او پیغامونو په باب ځینې پوښتنې کوي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب د ۳۱ ـ ۳۲ مخونو پر متن تکراراً کار کوي .
- په دریم پړاو کې ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د متن مطلب په خپله ژبه ولیکي . ځینې زده کوونکي په نوبت سره خپل کارونه د ټولګي په وړاندې لولي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی له څو زده کوونکو څخه پوښتنې کوي :
  - ارتباطي کلمې کوم ډول کلمو ته وایي ؟
  - قید څه ته وایي ؟ مثال یې وواياست .
  - د دې متن لنډ مطلب څه شی دی ؟

د کتاب مخونه : ۳۳

عنوان : وطنه !

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن (نظم) د شعر په آهنګ ولوستلای او مطلب یې وویلای شي .
- نظم په نثر واړولای او ولیکلای شي .
- قافیه وښودلای شي .
- له وطن سره د مینې په باره کې خپلې تجربې وویلای شي .

۱ ـ درسي پلان ۴۴

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی وايي : " وطن څه ته وايي ؟ تاسو خپل وطن ليدلی ؟ وطن پر موږ څه حقونه لري ؟ "
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب پر [۳۳] مخ د پخوا په شان کار کوي .
- په درېم پړاو کې د کتاب د ۲۶ مخ د [۱ ـ درسي پلان : ۲۵] د همدې مرحلې په شان کار کېږي .

يادونه :

زده کوونکي دې ضمناً وپوهول شي چې د ترانې هرې برخې ته " بند " وايي . او دا ترانه څلور بندونه لري .

- په څلورم پړاو کې يو زده کوونکی د شعر يو يا دوه بندونه وايي او نور زده کوونکي يې معنا او مطلب توضيح کوي . ښوونکی يوه يا دوه کلمې وايي او له زده کوونکو څخه يې همقافيه کلمې غواړي .

کورنی کار : زده کوونکي دې ترانه يادې کړي او راتلونکي ساعت ته دې په ګډه د ترانې ويلو له پاره ځانونه چمتو کړي .

۲ ـ درسي پلان : ۴۵

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی زده کوونکي په ګروپي ډول د ټولګي مخې ته را غواړي . په ګډو آوازونو کې ورباندې ترانه له يادې وايي .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۳۳ مخ پر متن تکرار کار وشي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو وېشي او ور څخه غواړي چې د ترانې دوه دوه بندونه په نثر واړوي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي :
  - همقافيه کلمې کومو کلمو ته وايي ؟ مثالونه يې ووايئ .
  - د دې شعر مطلب څه دی ؟
  - دا شعر موږ ته څه پيغام را کوي ؟

د کتاب مخونه : ۳۴

عنوان : د ښوونکي درناوی

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله وویلای اوولیکلای شي .
- د کلمو په مرسته نیمګړې جملې بشپړې کړای شي .
- د استاد درناوي او ادب په باره کې خبرې وکولای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۴۶

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی وایي : " تاسو پوهېږئ چې استادان پر تاسو د مور او پلار په شان حقونه لري . اوس تاسې په نوبت سره د استادانو د حقونو په باره کې خبرې وکړئ . "
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د ۳۴ مخ پر متن کار کوي .
- په درېم پړاو کې د کتاب د ۱۷ ـ ۱۸ مخونو د [۱ ـ درسي پلان : ۲۵] د همدې مرحلې په شان کار کېږي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د کتاب ځینې برخې لولي او پوښتنې کوي :
  - ښوونکی د معنوي مور او پلار حیثیت لري ـ ولې ؟
  - امام صاحب دهلك مخې ته ولې ور پاڅېده ؟
  - زده کوونکي له استاد څخه څه وخت ښه زده کړه کولای شي ؟

کورنی کار : زده کوونکي دې د استاد د درناوي په باب څو جملې ولیکي .

۲ ـ درسي پلان : ۴۷

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې زده کوونکي په نوبت سره خپلې لیکلې جملې لولي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د ۳۴ مخ پر متن تکراراً کار کوي .
- په درېم پړاو کې د کتاب د ۳۱ ـ ۳۲ مخونو [۳ ـ درسي پلان : ۴۳] د همدې مرحلې په شان کار کېږي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی پوښتنه کوي :

- که زده کوونکي د ښوونکي په درس پوه نه شي او يا ورته څه مشکل پيدا شي څه بايد وکړي ؟
- له يوه يا څو زده کوونکو څخه غوښتنه کېږي چې د متن لنډيز په خپله ژبه ووايي .

د کتاب مخ : ۳۵
عنوان : نازو انا
د درسونو شمېر : ۲
هدفونه : زده کوونکي بايد :
- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
- د هېواد د نومیالیو مېرمنو په باره کې معلومات ورکړای شي .
- نیمګړې جملې پوره کړای شي .
- د متن په پای کې راغلې څلورېزه په نثر واړولای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۴۸

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پر تخته ليکي :" هغه لاس چې زانګو زنګوي ، هغه جهان زنګوي . " او له زده کوونکو څخه غواړي چې د دې متل د مطلب په باب خبرې وکړي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب د ۳۵ مخ پر متن کار کوي .
- په دريم پړاو کې د کتاب د ۱۷ ـ ۱۸ مخونو د [۱ ـ درسي پلان : ۲۵] دهمدې مرحلې په شان کار کېږي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي او پوښتنې کوي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د متن د پای څلوريزه يادە کړي .

۲ ـ درسي پلان : ۴۹

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته ور بولي چې د نازو انا څلوريزه له يادە ووايي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د ۳۵ مخ پر متن تکراراً کار کوي .
- په دريم پړاو کې د کتاب د ۷ مخ [۱ ـ درسي پلان : ۱۱] او [۲ـ درسي پلان : ۱۲] د دريمو پړاوونو په شان کار کېږي .

یادونه :

" پټه خزانه " د یو پنځو سو تنو پښتنو شاعرانو اوادیبانوپوه تذکره ده چې د شا حسین هوتك په وخت کې لیکل شوې ده .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي :
  - د نازو انا شعر موږ ته له کومه ځایه لاس ته راغلی دی ؟
  - نازو انا د چا لور وه ؟
  - پټه خزانه چا لیکلې ده ؟

د کتاب مخونه : ۳۶ ــ ۳۷

عنوان : ښه خط

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید:

- متن ولوستلای او مطلب یې وویلای شي .
- ښه خط ولیکلای شي .
- قیدونه وښودلای او په جملو کې یې استعمال کړای شي .
- د ښه خط د اهمیت او ارزښت په باره کې خبرې وکولای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۵۰

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی لطیفه وایي ؛ مثلاً : "وایي چې یو څوك یوه لیکونکي ته ورغی ، ور څخه یې وغوښتل : " یوه ملګري ته مې خط استوم ، که راته ویې لیکې . " هغه ورته وویل : " پښه مې خوږېږي . " ده ورته وویل : " زه څو دې غزا ته نه لېږم چې ته راته بهانه کوې . "هغه ورته وویل : " بهانه نه درته کوم . زه چې چا ته خط ولیکم نو د لوستلو له پاره یې بیا هرو مرو ما ور غواړي ؛ ځکه چې زما خط بل څوك نه شي لوستلای . او زه اوس چېرته د تللو نه یم . "

له زده کوونکو څخه غوښتنه کېږي چې د لطیفې په باره کې خپل نظرونه وړاندې کړي .

- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب د ۳۶ مخ پر متن کار کوي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي په نوبت سره توري تختې ته ور بولي او د درسي کتاب د ۳۶ مخ دمتن د [۱] او [۲] لاربښوونو په رڼا کې پرې یوه یوه جمله لیکي . نور زده کوونکي یې

د نومړو لارښوونو په رڼا کې خامې اوغلطۍ په ګوته کوي .

- په څلورم پړاو کې د تېرو لوستونو د څلورم پړاو په شان کار کېږي .

کورنۍ کار : زده کوونکي دې د ۳۶ مخ د [۱] او [۲] لارښوونو په رڼا کې لږ تر لږه درې درې جملې وليکي .

۲ ـ درسي پلان : ۵۱

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنيو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی د ښه خط د ارزښت او اغېزې په باب پوښتنې کوي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د ۳۷ مخ پر متن کار کوي .
- په دريم پړاو کې د کتاب د ۳۷ مخ د [۳ ، ۴ ، ۵ ، ۶] لارښوونو په رڼا کې د تېر درسي پلان دهمدې مرحلې په شان کار کېږي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي او پوښتنې کوي :
  - په خط کې د تورو او تکو تر منځ د تولي د برابرۍ مطلب څه دی ؟
  - د تورېو او کلمو تر منځ د فاصلې تناسب څه ته وايي ؟

کورنۍ کار : زده کوونکي دې د ۳۷ مخ د [۳ ، ۴ ، ۵ ، ۶] لارښوونو په رڼا کې د خط د ښه کېدلو په باره کې يو ـ يو پاراګراف وليکي .

۳ ـ درسي پلان : ۵۲

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنيو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی پوښتنه کوي : " خپل خطونه څنګه ښه کولای شو ؟ " زده کوونکي ځوابونه وايي .
- په دوهم پړاو کې د کتاب د ۳۶ ـ ۳۷ مخونو پر متن تکراراً کار کېږي .
- په دريم پړاو کې د درسي کتاب د ۳۱ ـ ۳۲ مخونو د [۲ ـ درسي پلان : ۴۲] د دريم پړاو په شان کار کېږي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي :
  - د يوه خط د کرښو فاصله بايد څه ورې وي ؟
  - د يوه متن يا يوه خط حاشيې (دواړه غاړې) بايد څنګه وي ؟
  - قيد څه ته وايي ؟ مثالونه يې ووايئ .

د کتاب مخونه : ۳۸ ـ ۳۹

عنوان : راډيو

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای شي .
- له فاعل سره د فعل مطابقت وښودلای شي .
- د متن په اړوند يو لنډ متن / پاراګراف وليکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۵۳

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي : " تاسې د هېواد او د دنيا له ورځينو پېښو / واقعاتو / معلوماتو څخه څنګه ځانونه خبروئ ؟ تاسې راډيو ګانې ليدلې کتلي دي کوم ډول يې ښکلې وي او ښې غږېږي ؟ تاسې راډيو د څه له پاره غږوئ . "
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب پر متن له ۳۸ مخ څخه نيولي د ۳۹ مخ تر لومړي پاراګراف [. . . غوږونو ته را رسوي .] پورې کار کوي .
- په درېم پړاو کې زده کونکي پر دوو ګروپونو وېشل کېږي . يوه ګروپ ته دنده ورکول کېږي چې په خپلو کې د ۳۸ مخ دوهم او درېم پاراګرافونه ولولي او مطلب يې په خپله ژبه وليکي . بلې ډلې ته دنده ورکول کېږي چې ددې ورځې د لوست وروستی پاراګراف ولولي او مطلب يې په خپله ژبه وليکي .

د دې پړاو نور فعاليتونه له معمول سره سم سرته رسېږي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی په ځينو زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي او پوښتنې ور څخه کوي . کورنی کار : زده کوونکي دې په دې باره کې چې هغوی راډيو د څه له پاره اوري ، څو جملې / يو پاراګراف وليکي .

درسي پلان : ۵۴

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنيو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی پوښتنه کوي : " تاسې د راډيو په باره کې څه زده کړل ؟ . "

- په دوهم پړاو کې ښوونکی او زده کوونکي د کتاب د ۳۹ مخ پر پاتې برخه کار کوي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی پر توره تخته یوه جمله لیکي ؛ مثلاً : " فاطمه راغله . " بیا له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې څوک راغله ؟ زده کوونکي وایي : " فاطمه راغله . " بیا له زده کوونکو څخه غواړي چې د ذکر شوي فاعل (فاطمې) پر ځای [احسان] وکاروي . مثلاً : " احسان راغی . " ښوونکی پوښتنه کوي : " د فعل (راغله) شکل ولې بدل شو ؟ " زده کوونکي وایي : " ځکه چې فاعل له ښځینه څخه په نارینه بدل شو . "

اوس نو ښوونکی غواړي چې د [احسان] پر ځای [فاطمه ، پلوشه اوملالی] ذکر کړي . زده کوونکي وایي : " فاطمه ، پلوشه او ملالی راغلې . " بیا ښوونکی وایي چې د دې درېو واړو نومونو پر ځای [احسان ، حسن اوحسین] ذکر کړئ . زده کوونکي وایي : " احسان، حسن او حسین راغلل . " ښوونکی پوښتنه کوي : " د فعلونو شکلونه له [راغله ،راغی] څخه په [راغلې ، راغلل] ولې بدل شول ؟ " زده کوونکي وایي : " ځکه چې لومړی فاعل مفرد و خوروسته فاعل جمع شو .

په پښتو جملو کې فعل ، فاعل ، او ضمیر پر مفرد او جمع سر ببره په تذکیر او تانیث (نارینه او ښځینه) حالتونو کې هم سره مطابقت کوي .

- په درېم ګام کې زده کوونکي پر څو ډلو ویشل کېږي . یوې ډلې ته د جملو لاندنی ترکیب / نمونه ورکول کېږي چې ورباندې کار وکړي او جملې بشپړې کړي .

حامد ښار ته ولاړ .	زیرک خوشحاله دی .
پلوشه ښار ته	زرکه . . . .
حامد او اجمل ښار ته	زیرک اوحامد . . . .
پلوشه او فاطمه ښار ته	زرکه او زرغونه . . . .

نورو ډلو ته هم د پورته مثال په شان تمرېنونه ورکول کېږي چې ورباندې کار وکړي .

یادونه :

که فاعل اسم جمع وي او دپښتو د جمع د قاعدې پر اساس جمع ونه لري ، فعل ورسره د جمعې په شکل پاتې کیږي لکه : " خلك راغلل . " البته په پښتو کې د ځینو نومونو جمع او مفرد سره ګډ دي چې که د فاعل پر ځای راشي نو فعل ور سره د مفرد او جمع په دواړو ډولونو مطابقت کوي ؛ لکه :

- انار تریو دی .
- انار تروه دي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر ځینو زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي . د متن او د درېم پړاو د مشقونو په ارتباط پوښتنې کوي .

کورنی کار : زده کوونکي دې ددې پوښتنې په ارتباط یو پاراګراف ولیکي :

- راډیو چا جوړه کړې ده او څنګه یې جوړه کړې ده ؟

۳ ـ درسي پلان : ۵۵

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي :
- کشمالي چې راډیو کوك کړه ، راډیو څه وویل او ولې یې وویل ؟
- کشمالي چې په راډیو کې د آواز په باب پوښتنه وکړه ، پلار یې ولې له واره ځواب ور نه کړ ؟
- په دوهم پړاو کې د کتاب د ۳۸ ـ ۳۹ مخونو پر متن تکراراً کار کېږي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی زده کوونکو ته وخت ټاکي . له یوې ډلې څخه غواړي چې د راډیو دمخترع (مارکاني) په باره کې خپل معلومات ولیکي . بلې ډلې ته دنده ورکوي چې د راډیو دهغو پروګرامونو په باره کې خپل معلومات / یو لنډ پاراګراف ولیکي چې د هغو خوښېږي او اوري یې .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی په ځینو زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او پوښتنې ور څخه کوي :
  - د راډیوپه جوړولو کې ډېرو پوهانو کار کړی دی ، نو بیا مارکاني ولې د راډیو مخترع بلل کېږي .
  - د کشمالي پلار کاڼي د څه له پاره ډنډ ته ور ګوزار کړ ؟
  - د آواز څپې له راډیو څخه زمونږ غوږونو ته د څه شي په وسیله رارسیږي ؟

کتاب مخونه	: ۴۰ ـ ۴۲
عنوان	: نری رنځ
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې وویلای شي .
- د کلمو په ترتیبولو سره جملې جوړې کړای شي .
- د ورکړای شویو کلمو په ځای پر ځای کولو سره نیمګړې جملې بشپړې کړای شي .
- د نري رنځ نښې ، نښانې وښودلای او د علاج په باب یې یو څه ولیکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ٥٦

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي : " څوك کولای شي چې د بې‌لابیلو ناروغیو نومونه واخلي؟ ستاسو په فکر کومې ناروغۍ ډېرې خطرناکې دي ؟ داسې څوك پېژنئ چې په نري رنځ یا سل اخته وي ؟ که یې پېژنئ ، هغه څوك دی ؟ زوړ دی که ځوان ، لوی دی که ماشوم ؟ څه نښې ـ نښانې مو په کې لیدلې دي ؟ دا ډول ناروغان څه تکلیفونه لري ؟ "
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي / ښوونکی د کتاب له ۴۰ مخ څخه د ۴۱ مخ د لومړي پاراګراف تر پای [. . . هومره ژر رغېږي] پورې پر متن کار کوي .
- په دریم پړاو کې ښوونکی د ځینو جملو اړوندې کلمې په نا منظمه توګه پر توره تخته لیکي. زده کوونکي پر ګروپونو وېشي . بېلا بېلو ګروپونو ته دنده ورکوي چې د اړوندو کلمو په ترتیبولو سره ور څخه جملې جوړې کړي .

د یوه ګروپ له پاره مثال :

کړي / مکملې / هغه / معاینې / یې ــ هغه یې معاینې مکملې کړي .
چا/ ور / د / وښود / متخصص / ورته / سینې / د / یو / ناروغیو / .
درسته / یې / به / شپه / خوله / مړه / کوله / مړه / .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو د متن ځینې برخې لولې او پوښتنې کوي :
  - د زرلښتې وزن له یوې ورځې څخه بلې ته ولې کمېده اواشتها یې ولې خرابېدله ؟
  - د زرلښتې د پلار د دې دومره ډېرې وار خطایی وجه څه وه ؟

کورنی کار : ښوونکی دې زده کوونکو ته د ځینو جملو د اړوندو کلمو نا منظم ګروپونه ورکړي چې جملې ور څخه جوړې کړي .

۲ ـ درسي پلان : ٥٧

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنیو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی پوښتنې کوي : " د کلي او ولس د طبیبانو دارو ـ درملو زرلښتې ته ولې فایده ونه کړه؟ "
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي اوښوونکی د ۴۱ مخ له دوهم پاراګراف [د زرلښتې پلار وویل :] څخه د ۴۲ مخ تر پای پورې پر متن کار کوي .

ب ـ د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه :

د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه بايد يو ـ يو په درسي پلان کې په نښه شوی او پيش بيني شوی وي . کوم فعاليتونه چې زده کوونکي يې په خپله کولای شي ، ښوونکی يې بايد مخکې له مخکې ونه کړي . ښوونکی يوازې هغه وخت مرسته کوي چې زده کوونکي په فيزيکي يا ذهني لحاظ د يوه فعاليت له کولو څخه عاجز شي . ښوونکی ، زياتره ، له زده کوونکو سره د يوه صميمي همکار په توګه کار کوي او غواړي چې د تدريس او زده کړې جريان ته لوری ورکړي .

ښوونکی پر زده کوونکو باندې لاندني فعاليتونه کولای شي :

د درسي موادو پر محتوا او ماهيت باندې غور او فکر کول ، يو له بل څخه پوښتنې کول او ځوابونه ويل ، له ښوونکي څخه پوښتنې کول ، د خپلو ملګرو او ښوونکي نظريو ، توضيحاتو ، پوښتنو او ځوابونو ته پام کول ، په منطقي ډول د ځوابونو او نظريو منل يا ردول ، مفاهمه او مشوره کول، په پټه خوله يا لوړ آواز لوستل ، پر توره تخته او کتابچو کې کار کول ، له ملګري سره يا په ډله کې کار کول ، کورني کارونه کول ، د کورنيو غړو ته د درسي کتاب د هغو مطالبونو او پيغامونو ورلېږدول چې له کورني او محيطي ژوند سره يې نېغ په نېغه اړيکي لري ....

ج ـ درسي مواد :

د هر درس د موضوع ، هدفونو او تدريسي پړاوونو له غوښتنې سره سم درسي مواد برابرېږي . درسي کتاب ، د ښوونکي لارښود ، قلم ، کتابچه ، پنسل ، خطکش ، توره تخته ، تصويري کارډ ، چارټ او نور طبيعي او مصنوعي شيان ، چې د تدريس او زده کړې په عمليه کې ور څخه استفاده کيدای شي ، درسي مواد دي . ښوونکی بايد ه هر درس له پاره لازم درسي مواد مخکې له مخکې ، په پوره دقت سره انتخاب او برابر کړي او ټولګي ته يې له ځان سره يوسي .

د ـ د تدريس پړاوونه :

د وخت د اهميت او د تدريس او زده کړې د مؤثريت له پاره يو درسي ساعت معمولاً په څلورو پړاوونو ويشل کېږي .

لومړی ـ چمتو الی :

په دې پړاو کې لاندني فعاليتونه شامل دي :

ټولګي ته له ور ننوتلو سره سم سلام اچول ، د زده کوونکو حال ـ احوال پوښتل ، د ټولګي تنظيمول،

- په درېم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو د درسي کتاب د ۱۷ ـ ۱۸ مخونو د [۱ ـ درسي پلان :۲۵] د همدې مرحلې په شان کار کوي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او پوښتنې کوي :
  - نری رنځ څنګه خپریږي ؟
  - نری رنځ چا ته ډېر خط ناک وي او ولې ؟
  - ډاکتر د زرلښتې پر پلار د څه شي تاکید وکړ ؟

کورنی کار : زده کوونکي دې دنري رنځ د رنځورانو دعلاج په باب په خپله ژبه معلومات وليکي .

۳ ـ درسي پلان : ۵۸

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنه کوي : " لکه : ځینې رنځور ته دارو درمل فايده نه کوي ولې ؟ "
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي اوښوونکی د ۴۰ ـ ۴۲ مخونو پر متن تکرارا کار کوي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی د زده کوونکوله دوو ډلو څخه غواړي چې په نوبت سره يو يو تن تورې تختې ته ورشي . د نری رنځ او د هغه د رنځورانو د علاج په باب يو په بل پسې يوه يوه / دوه دوه جملې وليکي . د غلطی په صورت کې دې د بلې ډلې زده کوونکي هغه اصلاح کړي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي : " ايا دنري رنځ علاج ناشونی دی ؟ د نري رنځ د رنځورانو د علاج په لړ کې تر ټولو مهم ټکی ، چې بايد پام ورته وشي ، څه شی دی ؟ "

د کتاب مخونه : ۴۳ ـ ۴۵

عنوان : رښتينولي

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې وويلای / وليکلای شي .
- نيمګړي جملې د ټاکلیو کلمو په کارولو سره بشپړې کړای شي .
- د رښتينولی د ارزښت او اهميت په باره کې خبرې وکولای شي .
- د ابن سينا د ژوندانه د يوې ګوښې په باره کې معلومات ورکړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۵۹

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی وايي : " متل دی چې درواغجن آخر شرمېږي . تاسو په دې باره کې څه وايئ ؟ ."
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب له ۴۳ مخ څخه د ۴۴ مخ د درېم پاراګراف تر پای [. . . شاګرد څوك دی .] پورې پر متن کار کوي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو ددرسي کتاب د ۱۷ ـ ۱۸ مخونو د [۱ـ درسي پلان : ۲۵] د درېمې مرحلې په شان کار کوي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی په ځینو زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او پوښتنې کوي : "ابن سينا څوکی دی ؟ ابن سينا ته چا بلنه ورکړه او د څه له پاره يې ورکړه ؟ استاد له ابن سينا څخه څه غوښتنه وکړه ؟ د پاچا په زړه کې دا شك ولې پيدا شو چې دابه ابن سينا وي ؟ "

کورنی کار : د متن پاتې برخه دې ولولي .

۲ ـ درسي پلان : ۶۰

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی وايي : "تاسې د متن په پاتې برخه کې څه ولوستل او څه مو ځنې زده کړل ؟ "
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د ۴۴ مخ له څلورم پاراګراف (وزير مدرسې ته ولاړ .) څخه د ۴۵ مخ تر پای پورې پر متن کار کوي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د درسي کتاب د ۳۸ ـ ۳۹ مخونود [۱ـ درسي پلان : ۵۳] د درېمې مرحلې په شان کار کوي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی پر زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي او پوښتنې کوي : "وزير له ابن سينا سره تر روغبړ وروسته هغه ته څه وويل ؟ ابن سينا وزير ته په ځواب کې څه وويل ؟ وزير چې پاچا ته د ابن سينا د موندنې حال ووايه ، پاچا بيا څه وکړل؟ "

کورنی کار : زده کوونکي دې د متن لنډ مطلب په خپله ژبه وليکي .

۳ ـ درسي پلان : ۶۱

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې د کورنيو کارونو تر کتلو وروسته ښوونکی پوښتنه کوي : " ربښتينولي زمور په

ژوند کې څه رول (اغېز) لري ؟

- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د ۴۳ ـ ۴۵ مخونو پر متن تکراراً کار کوي .
- په درېم پړاو کې زده کوونکي پر دووګروپونو وېشل کېږي . یو ګروپ د رښتیاوو ګټې او بل ګروپ د درواغو ضررونه لیکي .
- په ځلورم پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي : " ابن سینا چې د سلطان محمود بلنه ونه منله ، نو څه یې وکړل ؟ وزیر د ابن سینا رښتینولی او زړور تیا ته ولې حیران شو ؟ پاچا ابن سینا ته د څه شي پېشکش وکړ ؟ "

د کتاب مخونه : ۴۶ ـــ ۴۸

عنوان : کتابتون

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي .
- ځینې لیک نښې وښودلای او د هجا ګانو او تورو تقابل وکولای شي .
- واړه واړه کتابتونونه جوړ او خپل کتابونه ښه او پاک وساتلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۶۲

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د کتاب د ۴۶ مخ تصویر د خپل ځنګ له ملګرو سره په غور وګوري اوبیا دې یو یو زده کوونکی په نوبت سره د هغه په باره کې خبرې وکړي ـ د هغه اجزا اوپه هغه کې ښودل شوي فعالیتونه تشریح کړي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د درسي پلان له ۴۶ مخ څخه د ۴۷ مخ د دوهم پاراګراف تر پایه پورې پر متن کار کوي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي پر څو ډلو وېشي . هرې ډلې ته دنده ورکوي چې لوستل شوی متن له سره ولولي . په متن کې راغلې هغه نښې ـ نښانې پیدا کړي او موقعیتونو ته یې ځیر شي چې نه لوستل کېږي . په خپلو کې د هغوی په باره کې خبرې اترې او له یو بل څخه پوښتنې وکړي چې چېرته ، کومې او ولې دا نښې ـ نښانې راغلي دي ؟

ښوونکی د ډلو له استازیو څخه غواړي چې اړونده نښې ـ نښانې پر توره تخته یوه تر بلې لاندې یوه یوه ولیکي ؛ نوم یې واخلي او ووایي چې هغه چېرته او ولې راغلي دي ؟

* د ښوونکي له پاره مثال / څوابونه ؛ زده کوونکي بایدداسې ووایي :

دغې [؟] نښې ته سوالیه وایي او په کوم ځای کې چې پوښتنه شوې په آخر کې هغه کارول شوې ده . مثلاً : د بریالي د پوښتنې په آخر کې راغلې ده .

دغو [" "] نښو ته لیندې یا واړه قوسونه ویل کېږي . د دې نښو په منځ کې د خلکو / بریالي خبره کټ مټ لیکل شوې / راغلې ده . مثلاً د بریالي د پلار خبرې او د بریالي پوښتنې د همدغو نښو په منځ کې کټ مټ لیکل شوي دي .

دغه [،] نښې ته کامه ویل کېږي چې کلمې یې یو له بل څخه جلا کړي دي ؛ مثلاً : " کتابونه " یې له "مجلې " څخه جلا کړې دي . دغې [:] نښې ته شارحه ویل کېږي چې د هرې وینا / خبرې تر مخه راغلې ده . مثلاً د پلار له وینا او د بریالي تر پوښتنې مخکې راغلې ده .

یادونه : که چېرې زده کوونکو په څوابونو کې ډېرې ستونزې لرلې نو بیا ښوونکی پر توره تخته لیکي :

دې [.] نښې ته نقطه یا ټکی وایي چې د هرې بشپړې خبرې / وینا / جملې په پای کې لیکل کېږي .

دې [؟] نښې ته سوالیه وایي او د پوښتنې په پای کې ایښودل کېږي .

دې [" "] نښو ته وړې لیندې / واړه قوسونه وایي چې د چا وینا / خبره په کې کټ مټ لیکل کېږي .

دې [،] نښې ته کامه / سر چپه پېښې / واو وایي چې کلمې سره ښلوي او د " او " د بیا بیا کارولو مخه نیسي .

دې [:] نښې ته شارحه وایي. کله چې د خلکو تر خبرو / وینا وو او یا تر حواله ورکړای شویو خبرو دمخه لیکل کېږي او بیا ورپسې جوخت خبره / وینا حواله ذکر کېږي .

دې [؛] نښې ته ټکی لرونکې کامه وایي. کله چې یوه خبره / جمله پای ته ورسېږي ، خو ورپسې خبره / جمله ور سره د معنا او موضوع له مخې اړه ولري نو له ور پسې جملې څخه دمخه دا نښه ایښودل کېږي .

– په څلورم پړاو کې ښوونکی د متن ځینې برخې په څو زده کوونکو لولي او د لیک نښو په باره کې پوښتنې کوي .

۲۰ ـ درسي پلان : ۶۳

د تدریس طریقه :

– په لومړي پړاو کې دې ښونکی پوښتنې وکړي ؛ مثلاً : تاسې په خپلو کورونو کې کتابونه لرئ ؟ که

لرئ يې ، نو هغه مو چېرته ايښي دي او څنګه مو ايښي دي ؟ دا کتابونه ستاسې خپل دي اوکه ستاسي د مشرانو ؟

- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۴۷ مخ له درېم پاراګراف څخه د ۴۸ مخ تر پای پورې پر متن کار وشي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې دې ښوونکی يوه جمله ، مثلاً : " بريالي څو ورځې له پلار سره په ډېرې خوښۍ تېرې کړې . پر توره تخته وليکي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې پر کلمو يې تجزيه کړي زده کوونکي کلمې وايي او ښوونکی يې پر توره تخته ليکي : " بريالي / څو / ورځې / له / پلار / سره / په / ډېرې / خوښۍ / تېرې / کړې / .
- بيا يې په ښلا ښلو هجاګانو ووېشي .

* د ښوونکي له پاره : بريالي = / بر / يا / لي

څو = څو

ورځې = ور / ځې

ور پسې ښوونکی له زده کوونکو څخه د يوې / يوې کلمې د هجاګانو د شمېر پوښتنه کوي . زده کوونکي يې ښيي . ښوونکی يې پر توره تخته ليکي :

بريالي = بر / يا / لی = ۳ هجاګانې

څو = څو = ۱ هجا

ورځې = و رَ / ځې = ۲ هجاګانې

ور پسې ښوونکی د جملې د پاتې برخې کلمې (له ، پلار ، سره ، په ، ډېرې ، خوښۍ ، تېرې ، کړې) پر توره تخته يوه تربلې لاندې ليکي او له يوه زده کوونکي څخه غواړي چې يوه ، يوه کلمه په هجاګانو ووېشي .

له = له

پلار = پلار

سره = سـ / ره

په = په

ډېرې = ډېـ / رې

خوښۍ = خو / ښۍ

تېرې = تېـ / رې

کړې = کړې

اوس ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې ووايي په دې ټولو هجاګانو کې د تورو شمېر يو برابر دی او که سره توپير لري ؟ زده کوونکي بايد ووايي : " په هجاګانو کې د تورو يا آوازونو شمېر توپير لري ؛ مثلاً : د [بريالي] په کلمه کې هره هجا له دوو تورو يا آوازونو څخه جوړه شوې ده . د [پلار] کلمه ټوله يوه هجا جوړوي . د [سره] د کلمې په وړومبنۍ هجا کې يوازې يو توری دی . د [کړې] کلمه دري توري لري ، خو يوه هجا يې جوړه کړې ده . " ښوونکی پر توره تخته ليکي . زده کوونکي يې لولي او کتابچو ته يې رسوي .

د همدې پړاو په دوهم ګام کې ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې يوه ، يوه جمله يا لږ تر لږه يوه يوه کلمه پر هجاګانو او بيا پر تورو تجزيه کړي او ورپسې په هره کلمه کې توري او هجاګانې سره مقابله کړي .

۳ ـ درسي پلان : ٦۴

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي ؛ مثلاً : تاسې چې له ښوونځي څخه کورنو ته ولاړ شئ ، نو خپل کتابونه ، کتابچې اونور د سبق سامان هلته چېرته ږدئ ؟ د ضرورت په وخت کې څنګه کولای شئ چې په آسانۍ سره يې تر لاسه کړئ ؟ د پخوانيو ټولګيو کتابونه او کتابچې خو به در څخه ضايع شوي نه وي ـ که ضايع شوي وي نو وجوهات څه وو ؟
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۴۶ ـ ۴۸ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۴ ـ ۱۶ مخونو د [۳ ـ درسي پلان : ۲۴] د درېم پړاو په شان کار وشي .
- په څلورم پړاو کې دې د تېرو لوستونو په شان ارزيابي وشي .

د کتاب مخونه : ۴۹

عنوان : وينا او عمل

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن (شعر) په شعري لهجه ولوستلای او مطلب يې وويلای او وليکلای شي .
- نظم په نثر واړولای شي .
- په شعر کې قافيه وښودلای شي .
- شعر له يادې وويلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ٦٥

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي : ښه / نېک خلک څه ډول خويونه او عادتونه لري ؟ ولې ځينې خلک د چا نه خوښېږي ؟ د هغو خلکو په باره کې چې وايي يو څه او کوي بل څه ، څه نظر لرئ ؟
- په دوهم پړاو کې زده کونکي او ښوونکی د کتاب پر ۴۹ مخ کار کوي .
- په دريم پړاو کې دې زده کوونکي او ښوونکی د [۱ ـ درسي پلان : ۳۵] د دريمې مرحلې په شان کار وکړي .
- په ځلورم پړاو کې ښوونکی پر ځينو زده کوونکو د شعر ځينې بيتونه وايي . له ځينو زده کوونکو څخه د شعر معنا او مطلب غواړي .

کورنی کار : زده کونکي دې شعر ياد کړي .

۲ ـ درسي پلان : ٦٦

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره د شعر دوه دوه بيتونه له يادې ووايي .
- ښوونکی زده کونکو ته بلنه ورکوي چې د هغو کسانو په باره کې خبرې وکړي چې وينا عمل سره سمون لري .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښونکی د کتاب پر ۴۹ مخ تکراراً کار کوي .
- په دريم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو وېشي . يوه ګروپ ته دنده ورکوي چې د لومړي بيت او بل ګروپ ته دنده ورکوي چې د ځلورم بيت پيغام / مطلب / مقصد وليکي .
- په ځلورم پړاو کې له معمول سره سم کار کېږي .

د کتاب مخونه : ۵۰ ـ ۵۱

عنوان : د وطن ساتنه

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
- حال او ماضي فعلونه وښودلای شي .
- د وطن ساتنې د اهميت په باره کې خبرې وکولای شي .

۱ ـ دسي پلان : ٦٧

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي ؛ مثلاً : وطن څخه ته وايي ؟ تاسو خپل وطن پيژنی ؟ افغانستان ته ولې افغانستان وايي ؟ وطن پر مورږ اوتاسو څه حق لري ؟
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي اوښوونکی د کتاب پر ۵۰ مخ کار کوي .
- په دريم پړاو کې ښوونکی زده کوونکي پر ډلو وېشي . د هرې ډلې مشر ته د متن يوه يوه برخه سپاري چې خپلې ډلې ته د هغې املا ووايي . په پای کې ډلې يوه بلې ته کتابچې سپاري چې د کتاب له مخې يې املا يې غلطی سمې کړي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي .

۲ ـ درسي پلان : ٦٨

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی له خپل نوښت څخه کار واخلي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د ۵۱ مخ پر متن کار کوي .
- په دريم پړاو کې ښوونکی زده کووکو ته دنده ورکوي چې دخنګ درې درې ملګري دې سره يو ځای شي ـ د " وطن ساتنې " د موضوع په هکله دې لومړی فکر او بحث وکړي او بيا دې په شريکه د هغې په باره کې واړه واړه پاراګرافونه وليکي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو د متن ځينې برخې لولي او ورځخه پوښتنې کوي :
  - زمورږ نيکونو چا ته ماتې ورکړې وه ؟
  - مورږ چا ته ماتې ورکړه ؟
  - که څوک زمورږ پر خاوره تېری وکړي ، د هغو په مقابل کې بايد څه وکړو ؟

۳ ـ درسي پلان : ٦٩

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پر توره تخته ليکي : " مال مې له سره ځار او سر مې له ناموسه . " او له زده کوونکو څخه د دې متل د مطلب پوښته کوي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي اوښوونکی د کتاب د ۵۰ ـ ۵۱ مخونو پر متن تکراراً کار کوي .
- په دريم پړاو کې زده کوونکي پر دوو ګروپونو وېشل کېږي . يو په متن کې ماضي او بل د حال فعلونه پيدا کوي او په کتابچو کې يې ليکي . د ګروپونو مشران د خپل کار نتيجې پر تخته ليکي . که وخت و ، ښوونکی د مقابل ګروپ زده کوونکي تختې ته ور بولي چې يو يو فعل په جمله کې استعمال کړي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی له ځينو زده کوونکو څخه غواړي چې د متن د مفهوم لنډيز په خپله ژبه ووايي . بيا له ځينو زده کوونکو څخه پوښتنې کوي : " د وطن خدمت څه شی دی ؟ وطن پر موږ څه حقونه لري ؟ د وطن د کورنيو او بهرنيو دښمنانو په مقابل کې بايد څه وکړو ؟ " او اداسې نور .

د کتاب مخونه : ۵۲ ـ ۵۳

عنوان : پير محمد کاکړ

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
- ناسمې جملې سمې کړای شي .
- ارتباطي کلمې وښودلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۷۰

د تدريس طريقه

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنې کوي : "تاسې پښتانه شاعران پېژنئ ؟ هغه څوک دي ؟ د کوم ځای دي ؟ که د کوم شاعر کوم شعر مو په ياد وي، ويې وايئ .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب له ۵۲ مخ څخه د ۵۳ مخ تر لومړي پاراګراف [. . . ستايلی دی] پورې پر متن کار کوي .

- په درېم پړاو کې ښوونکی د زده کوونکو ډلو ته څو ناسمې جملې پر تخته لیکي چې وربانديې کار وکړي او سمې جملې دو باره ولیکي . لکه :
  - پیر محمد کاکړ په پښتنو شاعرانو کې ډېر لوړ مرتبه لري .
  - پیر محمد کاکړ ډېره لوی عالم و .
  - وروستیو شاعرانو یې ادبي مرتبه منلی دی .

* د ښوونکي له پاره :
  - پیر محمد کاکړ په پښتنو شاعرانو کې ډېره لوړه مرتبه لري .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی د معمول په شان په زده کوونکو د متن څنې برخې لولي او پوښتنې کوي .

کورنی کار : ښوونکی زده کوونکو ته لاندې سوالونه پر توره تخته لیکي چې ځوابونه یې ولیکي :

" پیر محمد کاکړ څوک و ؟ د کوم ځای و ؟ د چا د در بار ملا امام و ؟ چا ته یې سبق وایه ؟ د چا له شعرونو سره یې مینه درلوده ؟"

۲ ـ درسي پلان : ۷۱

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی له خپل نوښت څخه کار واخلي .
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د درسي کتاب د ۵۳ مخ د متن پر پاتې برخه کار کوي .
- په درېم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د [۱ ـ درسي پلان : ۴۱] د درېم پړاو په شان کار کوي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او پوښتنې کوي .

کورنی کار : ښوونکی زده کوونکو ته پر توره تخته لاندې سوالونه لیکي چې ځوابونه یې په خپلو کتابچو کې ولیکي :

- پیر محمد کاکړ معرفه الافغاني چا تهٔ اود څه مقصد له پاره لیکی و .
- پیر محمد کاکړ په کوم کال وفات شوی دی ؟
- پیر محمد کاکړ د چا په حکم د پښتنو تاریخ لیکلی و ؟

۳ ـ درسي پلان : ۷۲

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی له خپل ابتکار څخه کار واخلي .

ـ ـروښکي په فزيکي او ذهني دواړو لحاظونو زده کړې ته چمتو کول ، د کورنيو کارونو کتل ، د تېر لوست په مختصره توګه ارزيابي کول او د بسم الله الرحمن الرحيم په ويلو سره د نوي لوست په پېژندګلوي او تدريس پيل کول .

دوهم : پر موضوع / متن کار کول :

په پټه خوله / په لوړ آواز د متن لوستل ، د لغتونو ، ترکيبونو او اصطلاحاتو معنا کول ، د متن مفهوم په خپله ژبه ويل ، تصويرونو ته کتل او د هغو په باره کې خبرې کول ، پر پيغامونو او مفهومونو باندې تبصرې کول او نور ټول د همدې پړاو فعاليتونه دي ښوونکی هڅه کوي چې په دې پړاو کې زده کوونکو ته په متن / موضوع د پوهېدلو له پاره ضروري لارښوونه وکړي ـ نوي معلومات ورکړي او د لازياتو تمرينونو او مشقونو له پاره يې چمتو کړي . که ښوونکي د کتاب په متن کې ځينې ستونزې ولري ، نو تر تدريس دمخه دې د ښوونځي له نورو با تجربه ښوونکو ، سوپروايزرانو او ماسټر ټرېنرانو سره مطرح کړي .

دريم ـ مشق / تمرين کول :

په دې پړاو کې د متن / موضوع په رابطه مختلف ژبنې او ګرامري مشقونه کېږي ؛ مثلاً : املا ويل، انشاء ليکل ؛ جملې جوړول / سمول / پوره کول او ټولو هغو هدفونو ته ځان ور رسول چې د درسي کتاب د ژبنيو هدفونو په برخه کې يې د مخه يادونه وشوه . دغه راز ، ښوونکی د وخت په نظر کې نيولو سره د ژبنيو مهارتونو د لاپياوړتيا له پاره ځينې اضافي مشقونه هم په دې پړاو کې شاملولای شي . په دې پړاو کې ټولې هغه لغوي او ګرامري قاعدې تمرين کېږي چې مخکې پرې کار شوی دی . ښوونکی ورسره قدم په قدم مرسته کوي ، کار زياتره په ګروپونو کې کېږي .

څلورم ـ لنډيز / ارزيابي :

دا د تدريس او زده کړې ورستنی پړاو دی . په دې پړاو کې د درس لنډيز او نتيجه بيانېږي او ورسره ـ ورسره د دې خبرې ارزيابي کېږي چې ښوونکی خپلو مشخصو هدفونو ته رسېدلی او که نه ؟ دغه راز ، زده کوونکو يې څومره زده کړه کړې ده او څه ستونزې او نيمګړتياګاني لري چې په راتلونکي درسي ساعت يا پلان کې يې په نظر کې ونيسي. په دې پړاو کې لاندني فعاليتونه شامل دي :

پر يوه يا څو زده کوونکو د متن ځينې برخې لوستل ، د لغتونو ، ترکيبونو او اصطلاحاتو معنا کول، د ژبنيو او ګرامري مفهومونو تشريح کول ، د متن د مطلب او مفهوم په باب پوښتنې کول ، د موضوع

- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د ۵۲ ـ ۵۳ مخونو پر متن تکراراً کار کوي .
- په درېم پړاو کې ښوونکی د زده کوونکو له یوې ډلې څخه غواړي چې د " طمع " او له بلې څخه غواړي چې د "قناعت" په باره کې یو لنډ مطلب وليکي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی له ځینو زده کوونکو څخه د پیر محمد کاکړ د ژوند ، شاعرۍ او په شعر کې د هغه د پېغامونو په باره کې پوښتنې کوي .

د کتاب مخونه : ۵۴ ـ ۵۵

عنوان : خپل کار په خپله کول

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې وویلای او وليکلای شي .
- لغتونه په جملو کې وکارولای شي .
- په خپله د خپل کار د کولو په باره کې خبرې وکړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۷۳

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی له څو زده کوونکو څخه پوښتنې کوي ؛ مثلاً : د هغو کسانو په باره کې څه فکر کوئ چې د نورو په طمع یې خپلو کارونو ته لاس نه ورځي ؟
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د ۵۴ او ۵۵ مخونو پر متن کار کوي .
- په درېم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د [۱ـ درسي پلان : ۶۷] د درېم پړاو په شان کار کوي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی په ځینو زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او پوښتنې کوي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د لاندې سوالونو ځوابونه په خپلو کتابچو کې وليکي .

- له سویې سره څه وېره وه ؟
- سویه څنګه ډاډه شوه چې دپتې خاوند سبا غنم نه شي رېبلای ؟
- په آخر کې سویې له پتې څخه د تلو فیصله ولې وکړه ؟

۲ ـ درسي پلان : ۷۴

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی پوښتنه کوي ؛ مثلا : تاسې د سويې او د هغې د بچيو له کيسې څخه څه پند يا عبرت واخيست ؟
- په دوهم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د کتاب د **۵۴** او **۵۵** مخونو پر متن تکراراً کار کوي .
- په درېم پړاو کې زده کوونکي او ښوونکی د [۲ـ درسي پلان : ۶۸] او [۳ ـ درسي پلان : ۶۹] د درېمو پړاوونو په شان کار کوي .
- په څلورم پړاو کې ښوونکی له ځينو زده کوونکو څخه غواړي چې د متن لنډ مطلب په خپله ژبه ووايي . او له ځينو څخه پوښتنې کوي :
  - څېل کار د نورو په طمع پرېښودل څخه تاوان لري ؟
  - طمع کول څنګه کار دی ؟

د کتاب مخونه	: ۵۶
عنوان	: عدل
د درسونو شمېر	: ۲
هدفونه	: زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
- مستقلې او مقيدې کلمې وښودلای شي .
- د عدل ارزښت او ضرورت وښودلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۷۵

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې پوښتنې مطرح شي ؛ مثلاً : څوك به ووايي چې عدل څه ته وايي ؟ څوك چې د نورو پر حقوقو تېری کوي ، هغه څنګه خلك وي او نور ورته په څه سترګه ګوري ؟ عدل او انصاف د چا کار دی ؟ . . .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د **۵۶** مخ پر متن کار وشي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې دې ښوونکی يوه مستقله او يوه مقيده کلمه ؛ مثلاً : [عدل] او [کې] پر تخته وليکي او له زده کوونکو څخه يې دې معنا وغواړي . زده کوونکي به [عدل] په

[انصاف ـ برابری] معنا کړي . خو د [کې] معنا ځان ته نا شونې ده .

بیا دې ښوونکی پر توره تخته ولیکي :

مستقلې کلمې هغه دي چې ځان ته معنا لري .
مقیدې کلمې هغه دي چې ځانله نه معنا کېږي .

زده کوونکي دې هغه ولولي او کتابچو ته یې دې ورسوي .

په دوهم ګام کې دې زده کوونکي په دوو ګروپونو ووېشل شي چې یو یې له متن څخه مستقلې او بل یې مقیدې کلمې را وباسي .

یادونه : که وخت و ، هغه دې په جملو کې وکاروي .

- په څلورم پړاو کې دې د تېرو لوستونو په شان ارزیابي وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې دغه کیسه له یاده / له ځانه ولیکي .

۲ ـ درسي پلان : ۷۶

د تدریس طریقه :

- تر چمتو والي وروسته دې په دوهم پړاو کې د کتاب د ۵۶ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۳ ـ درسي پلان : ۱۵] د درېم پړاو په شان کار وشي .
- په څلورم پړاو کې دې پر ځینو زده کوونکو د کیسې لنډیز وویلای او د مستقلو او مقیدو کلمو مثالونه دې ور څخه وغوښتلای شي .

د کتاب مخونه	: ۷۵ ـ ۵۹
عنوان	: الوتکه
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي .
- ضمیرونه وښودلای شي .
- د الوتکې په باب معلومات بیان کړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۷۷

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې د موضوع په ارتباط پوښتنې وشي ؛ مثلا : هغه کومې وسيلې دي چې خلك په کې له يوه ځای څخه بل ته سفر کوي او يا په کې مالونه وړي راوړي ؟
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب له ۵۷ مخ څخه د ۵۸ مخ تر لومړي پاراګراف [. . . او مړ شو] پورې پر متن کار وشي.
- په درېم پړاو کې دې د درسي کتاب د [۱ ـ درسي پلان : ۴] د درېم پړاو په شان کار وشي .
- په څلورم پړاو کې دې د تېرو لوستونو د څلورمو پړاوونو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې په دې باره کې چې د تګ را تګ په وسيلو کې يې کومه يوه ډېره خوښه ده او ولې يې خوښه ده يو عبارت وليکي .

۲ ـ درسي پلان : ۷۸

د تدريس طريقه :

- تر چمتووالي وروسته ، په دوهم پړاو کې دې د متن پر پاتې برخه کار وشي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې دې ښوونکی له يوه زده کوونکي څخه وغواړي چې د ټولګي له خونې څخه بهر ولاړ شي . بيا دي له بل زده کوونکي څخه پوښتنه وکړي چې فلانی (. . .) چېرته ولاړ ؟ ښوونکی بهر ته تللی زده کوونکی بېرته را غواړي . دا ځل يو بل زده کوونکی بهر ته استوي او دده په باره کې هم کټ مټ هماغه مخکښنی پوښتنه البته له يوه بل زده کوونکي څخه که زده کوونکي ځواب ورکړ چې " هغه " بهر ولاړ . نو ښه تر ښه . که نه نو بيا ښوونکی همدغه جمله پر تخته ليکي او وايي : ستاسې ملګري د (. . .) نوم وا نه خيست او پر ځای يې " هغه " ووايه او که چېرې د زده کوونکي نوم يې واخيست نو بيا ښوونکی وايي چې که د (. . .) نوم وا نه خلئ نو څنګه به ووايئ ؟ زده کوونکي به ښايي ځواب ورکړي : " هغه بهر ولاړ . " بيا دغه جمله پر توره تخته ليکي . بيا وايي چې تاسو وليدل چې د نوم په ځای د [هغه] کلمه وکارول شوه .

دلته [هغه] ضمير دی چې د نوم پر ځای راځي اود تکرار مخه نيسي .

> هغه کلمه چې د نوم پر ځای راځي او دنوم تکرار مخه نيسي ، ضمير بلل کېږي؛ لکه : زه ، ته ، هغه ، دې ، دا ، دوی اونور .

په دوهم ګام کې دې زده کوونکي په درېو ګروپونو ووېشل شي . هر ګروپ ته دې وظيفه ورکړل شي

چې د کتاب له يوه مخ څخه ضميرونه را وباسي

ضمېرونه په جلمو کې هم استعمال کړي .

- په څلورم پړاو کې دې په زده کوونکو د متن د ځينو برخو پر لوستلو سر ببره له هغوی څخه د متن په رابطه هم ځينې پوښتنې وشي .

۳ ـ درسي پلان : ۷۹

د تدريس طبقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره يوه پوښتنه وکړي ؛ مثلا : تاسې چې کله په هوا کې الوتکه ګورئ ، نو په زړه کې مو څه در ګرځي ؟ په تاسو کې کوم يو دا هوس / هيله لرئ چې پېلوټ شئ ؟ الوتکې زمونږ په ژوند کې څه اسانتيا را وستې ده ؟ . . .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۵۷ ـ ۵۹ مخونو پر متن تکرارا کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د کتاب د [۲ ـ درسي پلان : ۳۲] د درېم پړاو په شان کار وشي .
- په څلورم پړاو کې دې د تېرو لوستونو د څلورمو پړاونو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه : ۶۰ ـــ ۶۲

عنوان : پاکه هوا

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- د تصويرونو په باره کې خبرې وکولای شي .
- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای شي .
- نيمګړې جملې بشپړې کړای شي .
- د پاکې هوا د ګټې او د ناپاکې هوا د ضرورونو په باره کې پاراګرافونه وليکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۸۰

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې د درسی کتاب د [۱ ـ درسي پلان : ۶۲] د لومړي پړاو په شان کار وشي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۶۰ مخ له پيل څخه د ۶۱ مخ د دوهم پاراګراف [. . . له پاره ګټور وي .] تر پای پورې پر متن کار وشي .

- په درېم او څلورم پړاو کې دې د [۲ ـ درسي پلان : ۵] د درېم او څلورم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د ۶۰ مخ د تصویر په باره کې یو عبارت ولیکي .

یا : د دې په باره کې چې د خپلې سیمې هوا څنګه پاکه ساتلای شئ ؟ یو پاراګراف ولیکي .

۲ ـ درسي پلان : ۸۱

د تدریس طریقه :

- تر چمتو والي وروسته ، په دوهم پړاو کې دې د کتاب ۶۱ مخ د درېم پاراګراف له پیل څخه د ۶۲ مخ تر پای پورې پر متن ار وشي .
- په درېم اوڅلورم پړاو کې دې د کتاب د [۱ ــ درسي پلان : ۲۵] ددرېم او څلورم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د دې په باره کې چې نا پاکه هوا له څه نه پیدا کېږي ؟ واړه واړه پاراګرافونه ولیکي .

۳ ـ درسي پلان : ۸۲

د تدریس طریقه :

- تر چمتووالي وروسته ، په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۶۰ ـ ۶۲ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي پر ګروپونو ووېشل شي . د یوه ګروپ زده کوونکي دې په نوبت سره د پاکې هوا د ضرورت او اهمیت په باب او د بل ګروپ زده کوونکي دې د ناپاکې هوا د ضررونو په باره کې معلومات ولیکي .
- په څلورم پړاو کې دې پر ځینو زده کوونکو د متن ځینې برخې ولوستل شي او ورسره ورسره د پاکې او تازه هوا په باره کې دې د متن په ارتباط پوښتنې وشي .

د کتاب مخونه	: ۶۳
عنوان	: کتاب وایي
د درسونو شمېر	: ۲
هدفونه	: زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې وویلای او ولیکلای شي .
- نظم په نثر واړولای شي .
- د کتاب د اهمیت په باره کې خپل نظرونه وویلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۸۳

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی دبحث له پاره يوه پوښتنه وکړي ؛ مثلاً : وايي چې کتاب ډېر ښه دوست او ملګري دی . په دې باب ستاسو نظر څه دی ؟
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب پر ۶۳ مخ کار وشي .
- په درېم او څلورم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۱۱] د درېم او څلورم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې شعر ياد کړي .

۲ ـ درسي پلان : ۸۴

د تدريس طريقه :

- تر چمتوالي وروسته ، په دوهم پړاو کې دې دکتاب د ۶۳ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم او څلورم پړاو کې دې د [۲ ـ درسي پلان : ۱۲] د درېم او څلورم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه : ۶۴ ـــ ۶۵

عنوان : ګل پاچا الفت

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
- مختارې او وروستارې (لاحقې) وښودلای شي .
- د الفت د افکارو په باره کې معلومات ورکړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۸۵

د تدريس طريقه :

- تر چمتو والي وروسته ، په دوهم پړاو کې دې زده کوونکي او ښوونکی ددرسي کتاب د ۶۴ مخ تر وروستي پاراګراف [جهان ودان کړي .] پورې پر متن کار وکړي .
- ددرېم پړاو په لومړي ګام کې ښوونکی ځينې کلمې ؛ مثلاً : [علمونه ، کتابونه ، انسانان] پر توره تخته ليکي . زده کوونکي په نوبت سره ور بولي چې د دغو کلمو په مفردو شکلونو پورې نښتې برخې وښيي ؛ مثلاً : په [علم] او [کتاب] پسې د [ونه] او په [انسان] پسې د [ان] لفظونه / شکلونه نښتي دي چې دغه کلمې يې له مفرد څخه جمعې ته اړولې دي .

ښوونکی پر توره تخته لیکي :

ور وستاړي یا لاحقه هغه لفظ یا / شکل ته وایي چې د یوې کلمې په ریښې پسې نښتي وي او د ریښې معنا بدلوي .

زده کوونکی یې لولي او کتابچو ته یې رسوي .

په دوهم ګام کې دې زده کوونکي پر ډلو ووېشل شي چې په لوستل شوي متن کې وروستاړي پیدا کړي .

یادونه : ښوونکی کولای شي په زده کوونکو له متن څخه پرته د نورو لاحقه لرونکو کلمو پر مثالونو هم کار وکړي .

- په څلورم پړاو کې ښوونکی په زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي او د وروستاړیو په باره کې ور څخه پوښتنې کوي .

۲ ـ درسي پلان : ۸۶

د تدریس طریقه :

- تر چمتووالي وروسته ، په دوهم پړاو کې دې زده کوونکي او ښوونکی د درسي کتاب د ۶۴ مخ له وروستي پاراګراف څخه د ۶۵ مخ تر پای پورې پر متن کار وکړي .
- په درېم پړاو کې دې ښوونکی ځینې کلمې ؛ مثلاً : [نا امید] او [بې خوند] پر توره تخته ولیکي. بیا دې زده کوونکي په نوبت سره ور بولي چې د دغو کلمو د اصلي شکلونو یا ریښو په سر کې راغلي لفظونه په ګوته کړي ؛ مثلاً : د [امید] په سره کې د [نا] او د [بې خوند] په سر کې د [بې] لفظونه / شکلونه راغلي دي چې دغه کلمې یې له مثبت څخه منفي ته اړولي دي .

بیا ښوونکی پر توره تخته لیکي :

مختاړي هغه لفظونه / شکلونه دي چې د یوې کلمې په سر کې راځي او د کلمې معنا بدلوي .

زده کوونکي یې لولي او کتابچو ته یې رسوي .

ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د پاسنیو مثالونو په شان نورې کلمې په نوبت سره ووایي او د هغوی د معناګانو اډلون ـ بدلون په کې څرګند کړي.

په څلورم پړاو کې دې د همدې متن د لومړي درسي پلان په شان ارزیابي وشي .

۳ـ درسي پلان : ۸۷

د تدريس طريقه :

- تر لومړي پړاو وروسته دې زده کوونکي اوٛ ښوونکی د کتاب د ٦٤ ـــ ٦٥ مخونو پر متن تکراراً کار وکړي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۴] د درېم پړاو په شان کار وشي .
- په څلورم پړاو کې دې ښوونکی له ځینو زده کوونکو څخه پوښتنې وکړي ؛ مثلاً : دالف مشهور کتابونه کوم دي ؟ الفت موږ ته د څه له پاره بلنه راکوي ؟ الفت موږ ته دځه شي سپارښتنه کوي ؟ الفت کله زېږېدلی او د څو کالو په عمر وفات شو ؟

د کتاب مخونه	: ٦٦ ـ ٦٧
عنوان	: ورځپاڼه
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي بايد :
	• متن ولوستلای او مطا ب يې وويلای او وليکلای شي .
	• ځينې ليکي نښې وکارولای شي .
	• ضميرونه وښودلای شي .
	• د ورځپاڼې اهميت او ارزښت بيان کړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۸۸

د تدرېس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی پوښتنې وکړي ؛ مثلاً : تاسې اخبار ليدلی ؟ کوم کوم اخبارونه پېژنئ ؟ د ورځپاڼې نوم مو اورېدلی ؟ ورځپاڼه څه ته وايي او خلك يې د څه له پاره لولي ؟
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ٦٦ مخ د متن پر لومړيو دوو پاراګرافونو کار وشي .
- په درېم او څلورم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ٦٢] د درېم او څلورم پړاو په شان کار وشي .

۲ ـ درسي پلان : ۸۹

د تدريس طريقه :

- تر چمتو والي وروسته ، په دوهم پړاو کې دې د متن پر پاتې برخه کار وشي .
- په دريم او څلورم پړاو کې دې د [۲ـ درسي پلان : ۷۸] د درېم او څلورم پړاو په شان کار وشي .

۳ ـ درسي پلان : ۹۰

د تدريس طريقه :

- تر چمتو والي وروسته ، په دوهم پړاو کې دې درسي کتاب د ٦٦ ـــ ٦٧ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم او څلورم پړاو کې دې د [۳ ـ درسي پلان : ٦] د درېم او څلورم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه	: ٦٨ ـــ ٦٩
عنوان	: سابه
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي بايد
	• د تصويرونو په باره کې خبرې وکولای شي .
	• متن ولوستلای او مطلب يې وويلای شي .
	• مستقلې او مقيدې کلمې وښودلای شي .
	• د جنس نوم وښودلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۹۱

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی له زده کوونکو څخه وغواړي چې د ۶۸ مخ پر تصوير خبرې / بحث / تبصره وکړي .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۶۸ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې [۱ ـ درسي پلان : ۷۵] د درېم پړاو په شان کار وشي .
- په څلورم پړاو کې دې په ځينو زده کوونکو متن ولوستلای او له ځينو څخه دې د سبو په باب پوښتنې وشي .

۲ ـ درسي پلان : ۹۲

د تدريس طريقه :

- تر چمتو والي وروسته ، په دوهم پړاو کې هم د ۶۹ مخ پر متن کار وشي .
- د درېم پړاو په لومړي ګام کې دې ښوونکی پر تخته د يوه جنس نوم ؛ مثلاً : [پياز] وليکي اوله زده کوونکو څخه دې وغواړي چې د هغه جمع شکل وليکي / ووايي . و به لېدل شي چې دا کار

تطبيقي او عملي اړخ روښانول او د کورنيو کارونو ورکول .

زده کوونکو ته دې داسې او دومره کورني کارونه هېڅکله ورنه کړای شي چې د تر سره کولو توان يې ونه لري . د کورنيو کارونو د ورکولو په برخه کې د ښوونځي د هر ټولګي د ښلا ښلو مضمونونو د ښوونکو تر منځ مفاهمه او هم اهنګي ښځي ضروري ده .

د دې درسي لارښود په باب ځينې ضروري اشارې :

- هغه درسي پلانونه چې موضوعګاني او ميتودونه لري ، په مفصل ډول ترتيب شوي دي . کوم پلانونه چې نوې موضوع يا ميتود نه لري يا يې موضوع او ميتود تېرو پلانونو ته ورته دی ، لنډ ليکل شوی او د تطبيق له پاره يې زياتره د تېرو پلانونو په پړاوونو حواله ورکړای شوې ده .
- په ځينو درسي پلانونو کې ځينې تدريسي پړاوونه نه دي مشخص شوي ؛ ښوونکی يې دې په خپل نوښت او ابتکار پر مخ بوزي .
- د هرې موضوع د وروستني درسي پلان په دوهم پړاو کې پر متنونو ، زياتره ، ځکه تکرارا کار کېږي چې پر ښلا ښلو درسي واحدونو باندې د درسي کتاب د موضوعګانو د وېشلو له امله د هغوی تسلسل او يووالی اعاده او خوندي شي .
- دا درسي پلانونه په مجموع کې پر له پسې او په هره موضوع کې جلا ـ جلا شمېرې لري .
- په بيفير کې د دود شوي درسي پلان د چوکاټ نمونه د دې درسي لارښود په لومړيو لسو درسي پلانونو کې حفظ شوې ده .
- دغه [*] نښه تبصرې/ يادونې ښيي .

ناشونی دی .

ښوونکی پر توره تخته لیکي :

هغه نومونه چې نه جمع کېږي یا دا چې جمع او مفرد نه لري د جنس نومونه بلل کېږي .

زده کوونکي یې لولي او کتابچو ته یې رسوي .

د همدې پړاو په دوهم ګام کې دې زده کوونکي پر ګروپونو ووېشل شي چې د ۶۹ مخ له متن څخه د جنس نومونه را وباسي .

یادونه : که وخت و ، زده کوونکي دې هغه په جملو کې هم وکاروي .

۳ ـ درسي پلان : ۹۳

د تدریس طریقه :

- تر چمتو والي وروسته ، په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۶۸ ـ ۶۹ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي د متن د مطلب لنډیز په خپله ژبه ووایي .

د کتاب مخونه : ۷۰ ـ ۷۱
عنوان : دوستي
د درسونو شمېر : ۳
هدفونه : زده کوونکي باید :
• تصویر تشریح کړای شي .
• متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای / ولیکلای شي .
• د هجاوو او توریو تقابل وکولای شي .
• د دوستۍ د اهمیت په باره کې خپلې نظریې وویلای او ولیکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۹۴

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې د بحث له پاره پوښتنې مطرح شي ؛ مثلاً : دوستي او ملګرتیا څه ته وایي ؟ دوست او ملګري باید څنګه وي ؟ څوک د دوستۍ او ملګرتیا وړ دي ؟ له خپل دوست او ملګري سره باید څه ډول چلند وشي ؟

- په دوهم پړاو کې دې دکتاب د ۷۰ مخ د لومړي اودوهم پاراګراف پر متن تر [پالنه هم غواړي] عبارت پورې کار وشي.
- په درېم پړاو کې دې د کتاب د [۲ ـ درسي پلان : ٦۳] د درېم پړاو په شان کار وشي.

کورنی کار : زده کوونکي دې د يوه ښه دوست صفتونه وليکي.

۲ ـ درسي پلان : ۹۵

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې زده کوونکي د کتاب د ۷۱ مخ د تصوير په هکله خبرې اترې وکړي.
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۷۰ مخ له وروستي پاراګراف څخه د ۷۱ مخ تر پای پورې پر متن کار وشي.
- په درېم پړاو کې دې د [۲ ـ درسي پلان : ۵] د درېم پړاو په شان کار وشي.

۳ ـ درسي پلان : ۹٦

د تدريس طريقه :

- تر چمتو والي وروسته دې په دوهم پړاو کې درسي کتاب د ۷۰ ـ ۷۱ مخونو پر متن تکراراً کار وشي.
- په درېم پړاو کې دې د [۳ـ درسي پلان : ٦] د درېم پړاو په شان کار وشي.

د کتاب مخونه : ۷۲ ـ ۷۳

عنوان : نوروز

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای / وليکلای شي.
- جمع نومونه او د هغوی اوښتي شکلونه وښودلای شي.
- د نوروز د تاريخي عنعنې په باره کې خپلې تجربې وويلای شي.

۱ ـ درسي پلان : ۹۷

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې د بحث له پاره ځينې پوښتنې مطرح شي ؛ مثلاً : نوروز څه ته وايي ؟ خلك ورته ولې خوشحاليږي او په خوښۍ يې نمانځي ؟

- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۷۲ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلا : ۱۶] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۲ ـ درسي پلان : ۹۸

د تدريس طريقه :

- تر چمتو والي وروسته دې په دوهم پړاو کې د کتاب د ۷۳ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۲۲] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۳ـ درسي پلان : ۹۹

د تدريس طريقه :

- تر چمتو والي وروسته دې په دوهم پړاو کې د کتاب د ۷۲ ـ ۷۳ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۲ـ درسي پلان : ٦٨] د درېم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه : ۷۴

عنوان : د معارف ترانه

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن (نظم) په شعري انداز ولوستلای شي .
- د متن (نظم) مفهوم په خپله ژبه وويلای اوولیکلای شي .
- د معارف د اهميت په باره کې خپلې تجربې وويلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۰۰

د تدريس طريقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۷۴ مخ پر متن کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۱۱] د درېم پړاو په شان کار وشي .
- په څلورم پړاو کې دې د تبرو لوستونو په شان ارزيابي وشي .

کورنی کار : زده کوونکی دې شعر ياد کړي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۰۱

د تدريس طريقه :

- په وړومبي پړاو کې دې په څو زده کوونکو ترانه له یاده ولولي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب ۷۴ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۲ ـ درسي پلان : ۱۲] درېم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه	: ۷۵
عنوان	: ایثار
د درسونو شمېر	: ۲
هدفونه	: زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي .
- کیسې وکولای / وویلای شي .
- ماضي فعل وښودلای شي .
- د ایثار د مفهوم او ارزښت په پاره کې خپلې نظریې وویلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۰۲

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې دبحث له پاره یوه پوښتنه مطرح شي ؛ مثلاً : ایثار څه ته وایي ؟ په دې باره کې دې زه کوونکي خپلې تجربې بیان کړي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۷۵ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۳ ـ درسي پلان : ۲۷] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې کیسه یاده کړي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۰۳

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې ځینې زده کوونکي د [ایثار] په متن کې راغلې کیسه له یاده وکړي / ووایي .
- په دوهم پړاو کې دې د ۷۵ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي د متن مطلب لنډیز په خپله ژبه وليکي .

د کتاب مخونه : ۷۶ ـــ ۷۷

عنوان : عبدالوکیل خان

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای اوولیکلای شي .
- خاص نومونه وښودلای شي .
- د هېواد د ملي او تاریخي شخصیتونو په هکله خبرې وکولای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۰۴

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره ځینې پوښتنې مطرح کړي ؛ مثلاً : تاسې د خپل هېواد ملي او تاریخي شخصیتونه پېژنئ ؟ دغو شخصیتونو ولې دومره ښه نوم او شهرت ګټلی دی؟ مور ولې د خپل هېواد ملي او تاریخي قهرمانان ستایو او په درناوي سره یې یادوو ؟
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۷۶ ـ ۷۷ مخونو پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۳۴] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۰۵

د تدریس طریقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې دکتاب د ۷۶ ـ ۷۷ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي د کتاب په ۷۷ مخ کې د راغلي بیت ،د مفهوم په هلکه وړې وړې مقالې ولیکي :

مړ هغه چې نه یې نوم ، نه یې نشان شته
تل تر تله په ښه نوم پایي ښاغلي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د کتاب د ۷۸ مخ ولولي .

د کتاب مخونه : ۷۸ ـ ۸۰

عنوان : برکتي پيسې

د درسونو شمېر : ۴

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای اومطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
- نا سمې جملې سمې کړای شي .
- مختارې وښودلای شي .
- د سخاوت د مفهوم او اهميت په باره کې خپلې تجربې وويلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۰۶

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې د بحث له پاره ځينې پوښتنې مطرح شي ؛ مثلاً : سخاوت څه ته وايي ؟ سخي چا ته ويل کېږي ؟
- په دوهم پړاو کې دې دکتاب د ۷۸ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د کتاب د [۱ ـ درسي پلان : ۵۶] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۰۷

د تدريس طريقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۷۹ مخ تر وروستي پاراګراف (منځګړی شم) پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۲ ـ درسي پلان : ۸۶] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د بې ځايه خرڅ د زيانونو په باره کې څو جملې وليکي .

۳ ـ درسي پلان : ۱۰۸

د تدريس طريقه :

- تر چمتو والي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۷۹ مخ له وروستي پراګراف (نبي کريم صلی الله عيله وسلم) څخه د ۸۰ مخ تر پای پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې ښوونکی له يوه زده کوونکي څخه وغواړي چې لومړی د خپل ټولګي چوکۍ وشمېري او بيا پر تخته وليکي چې د ده خپله چوکۍ د څو وم قطار څوومه چوکۍ ده ؟

مثلاً : زده کوونکی تر شمېرلو وروسته ښايي پر تخته وليکي : زمونږ ټولګی دېرش يا ... چوکی لري . زما چوکی د څلورم قطار څلورمه چوکی ده .

ښوونکی پر توره تخته ليکي :

هغه کلمه چې د شيانو شمېر ښيي عدد بلل کېږي .

کورنی کار : زده کوونکي دې کيسه ياده کړي .

۴ ـ درسي پلان : ۱۹

د تدريس طريقه :

- په لومړی پړاو کې دې څو زده کوونکي په متن کې راغلې کيسه له ياده ووايي / وکړي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۷۸ ـ ۸۰ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۴] په شان کار وشي .

د کتاب مخونه :	۸۱ ـ ۸۲
عنوان :	لاسي صنايع
د درسونو شمېر :	۳
هدفونه :	زده کوونکي بايد :
	• متن وسوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای او وليکلای شي .
	• مفرد ، جمع او جنس نومونه وښودلای شي .
	• د هېواد د لاسي صنايعو په باره کې خپلې تجربې وويلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۱۰

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی د بحث له پاره يوه پوښتنه مطرح کوي ؛ مثلاً : لاسي صنايع څه ته وايي او څه ګټه لري ؟
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب له ۸۱ مخ څخه د ۸۲ مخ تر لومړي پراګراف پورې پر متن کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۳۱] د دريم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې له خپلو مشرانو څخه تر پوښتنې وروسته دهغو لاسي صنايعو نومونه لست کړي چې د دوی په سيمه کې جوړېږي يا ورسره آشنا دي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۱۱

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې د درسي کتاب د ۸۱ مخ د تصوير په باره کې خبرې وشي .
- دوهم پړاو کې دې د ۸۲ مخ د متن پر پاتې برخه کاروشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۳ ـ درسي پلان : ۹۲] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۳ـ درسي پلان : ۱۱۲

د تدريس طريقه :

- تر چمتوالي وروسته په دوهم پړاو کې دې دکتاب د ۸۱ ـ ۸۲ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۴] د درېم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه :	۸۳
عنوان :	کار
د درسونو شمېر :	۲
هدفونه :	زده کوونکي بايد :
	• متن (شعر) په شعري انداز ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه ووېلای او وليکلای شي .
	• نظم په نثر واړولای شي .
	• د کار د ارزښت او اهميت په باره کې خپلې تجربې بيان کړای شي .

۱ـ درسي پلان : ۱۱۳

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی دکار د ارزښت او اهميت په باب پوښتنې وکړي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۸۳ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۱۱] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې شعر ياد کړي .

۲ـ درسي پلان : ۱۱۴

د تدريس طريقه :

- په لومړی پړاو کې دې ځينې زده کوونکې شعر له ياده ووايي .

- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۸۳ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي پر دوو ګروپونو ووېشل شي . يو ګروپ دې د کار دګتو او بل ګروپ دې دتنبلۍ او بې کارۍ د ضررونو په باب يو يو پاراګراف وليکي .

د کتاب مخونه : ۸۴

عنوان : تقوی

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای اوولیکلای شي .
- مذکر او مؤنث نوموټه وښودلای شي .
- د تقوی او پرهېزګارئ په هکله خپلې تجربې بيان کړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۱۵

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره ځينې پوښتنې وکړي ؛ مثلاً : تقوی څه ته وايي ؟ متقي او پرهېزګار څوک دی ؟
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۸۴ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۹] د درېم پړاو په شان / په مرسته کار وشي . کورنی کار : زده کوونکي دې کيسه يادې کړي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۱۶

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی په ځينو زده کوونکو په متن کې راغلې کيسه له يادې وايي / وکړي .
- تر چمتووالي وروسته دې په دوهم پړاو کې دې د کتاب ۸۴ مخ پر متن تکرار کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۳ ـ درسي پلان : ۶] د درېم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه : ۸۵

عنوان : غلام محمد میمنه ګي

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای شي .
- عدد وښودلای شي .
- د کلمو په مرسته نیمګړې جملې پوره کړای شي .
- د هېواد دهنري او فرهنګي شخصیتونه په باره کې معلومات ولیکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۱۷

د تدریس طریقه :

- تر چمتو والي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۸۵ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۳ـ درسي پلان : ۱۰۸] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنۍ کار : زده کوونکي دې د خپلې خوښې د هنري او فرهنګي شخصیتونو په باره کې پاراګرافونه ولیکي .

۲ـ درسي پلان : ۱۱۸

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی کورنی کارونه ګوري او څو زده کوونکي خپل لیکلي پاراګرافونه لولي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۸۵ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۲۵] د درېم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه : ۱ ـ ۲

عنوان : پاکه ربه !

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او ګراني کلمې یې معنا کړای شي .
- د متن مطلب په خپله ژبه وویلای شي .
- د متن متضادې او مترادفې کلمې وښودلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱

پراوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
چمتو والی ۵ دقیقي	ـ ښوونکی ټولګي ته په ننوتلو سره وایي : السلام علیکم و رحمه الله وبرکاته . که د ښوونکي له پاره ټولګی او زده کوونکي یې نوي وي ، خپل ځان ور معرفي کوي : زه پلانکی (خپل نوم اخلي) د پلانۍ ځای او ستاسې د پښتو ښوونکی یم . ـ زده کوونکي وایي : وعلیکم السلام . ـ ښوونکی له زده کوونکو سره روغبړ کوي . نوي ټولګي ته د بریالیتوب او د درسي نوي کال د پیل کېدو مبارکي ورکوي . د ټولګي شاوخوا او د زده کوونکو وضعې ګوري که د ټولګي وضعه سمه نه وي ، د زده کوونکو په مرسته یې سموي . ـ ښوونکی پوښتنه کوي : انسان څخه وخت و ولې دعا کوي ؟ بیا پوښتنه کوي : که تاسې دعا وکړئ له الله تعالی څخه به څه وغواړئ ؟ ـ زده کوونکي یو په بل پسې په نوبت سره خپلې نظریې وایي او وړاندې بحث کوي . ښوونکی ورته غوږ نیسي او د مطلبونو په توضیح کې ورسره مرسته کوي . د دوی سمې خبرې تائیدوي او غلطي یې سموي .	درسي کتاب توره تخته تباشیر

د کتاب مخونه : ۸٦

عنوان : د تماکو ضررونه

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه ویلای او ولیکلای شي .
- صفتونه وښودلای شي .
- د تماکو او نشو د ضررونو په باره کې خپل معلومات وویلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۱۱۹

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره ځینې پوښتنې وکړي ؛ مثلاً : تماکو څه شی دی ؟ د نشه یانو حالت څه ډول وي ؟ نشه روغتیا ته څه ضررونه لري ؟ نشه یانو ته خلك په کومه سترګه ګوري ؟
- په دوهم پړاو کې دې دکتاب د ۸۶ مخ پر متن کار وشي .
- په دریم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۳۳] د دریم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د تماکو د ضررونو په باب یو لنډ عبارت ولیکي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۲۰

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی کورنۍ کارونه ګوري او څو تنه زده کوونکي د تماکو ضررونه بیانوي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۸۶ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په دریم پړاو کې دې د [۳ ـ درسي پلان : ۳۲] د دریم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه : ۸۷ ـ ۸۹

عنوان : برېښنا

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- د تصويرونو په باره کې خبرې وکولای شي .
- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای شي .
- ضميرونه وښودلای شي .
- د برېښنا په هکله خپلې تجربې وويلای او وليکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۲۱

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره زده کوونکو ته تصويرونه وښيي او پوښتنه دې وکړي چې دا څه شيان دي د څه له پاره ور څخه کار اخلو ؟
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب له ۸۷ مخ څخه د ۸۹ مخ تر لومړي پاراګراف پورې پر متن کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې ښوونکی لارښوونه وکړي چې د ډلو استازي خپلو ډلو ته له متن څخه املا ووايي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د تلويزيون په باره کې واړه ، واړه مطلبونه وليکي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۲۲

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی کورنۍ کارونه ګوري او څو تنه زده کوونکي د برېښنا په باره کې خپلې تجربې بيانوي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۸۹ مخ د متن پر پاتې برخه کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې [۲ ـ درسي پلان : ۷۸] د دريم پړاو په شان کار وشي .

۳ ـ درسي پلان : ۱۲۳

د تدريس طريقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۸۷ ـ ۸۹ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې زده کوونکي د برېښنا په باب پاراګرافونه وليکي .

د کتاب مخونه : ۹۰

عنوان : بې احتياطي

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای شي .
- ارتباطي کلمې وښودلای شي .
- دبې احتياطی د ضرر او داحتياط د ګټې په باره کې واړه واړه پاراګرافونه وليکلای شي .

۱ـ درسي پلان : ۱۲۴

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره يوه پوښتنه وکړي ؛ مثلاً : احتياط څه ته وايي ؟
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۹۰ مخ پر متن کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۴۱] د دريم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د متن کيسه يادې کړي .

۲ـ درسي پلان : ۱۲۵

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې څو زده کوونکي د متن کيسه له يادې ووايي / وکړي .
- په دوهم پړاو کې دې د ۹۰ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې يوه ډله زده کوونکي د بې احتياطی د ضرر او بله ډله دې د احتياط د ګټو په باب واړه واړه پاراګرافونه وليکي .

د کتاب مخونه : ۹۱ ـ ۹۲

عنوان : ښاري ژوند

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای شي .
- د هجاوو او تورو تقابل وکولای شي .
- قيدونه وښودلای شي .
- د ښاري او کليوالي ژوند په باب خپلې تجربې وليکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۲۶

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی داسې پوښتنه مطرح کړي چې زده کوونکي يې په ځواب کې دښاري ژوند په باب معلومات ووايي .
- په دوهم پړاو کې دې دکتاب لـه ۹۱ مـخ څخه د ۹۲ مـخ تر وروسـتي پـاراګراف (. . . وظيفـه لـري .) پورې پر متن کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې د [۲ـ درسي پلان : ۶۳] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د متن پاتې برخه ولولي .

۲ـ درسي پلان : ۱۲۷

د تدريس طريقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۹۲ مخ له وروسـتي پـاراګراف (په تلو تلو کې چې به . . .) څخه د ۹۳ مخ تر پای پورې پر متن کار وشي.
- په دريم پړاو کې دې د[۲ ـ درسي پلان : ۴۲] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۳ـ درسي پلان : ۱۲۸

د تدريس طريقه

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۹۱ ـ ۹۲ مخونو پر متن تکراراً کار وشي.
- په دريم پړاو کې دې يوه ډله زده کوونکي د ښاري ژونداو بله ډله دې د کليوالي ژوند په بـاره کې واړه واړه پاراګرافونه وليکي .

د کتاب مخ	: ۹۴
عنوان	: دهقاني
د درسونو شمېر	: ۲
هدفونه	: زده کوونکي بايد :

- متـن (شـعر) د شـعر پـه انـداز ولوسـتلای او مفـهوم يـې پـه خپلـه ژبـه وويـلای او وليکلای شي .
- شعر له يادې وويلای شي .
- د دهقانی د اهميت په باره کې خپلې تجربې وليکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۲۹

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښونکی د بحث له پاره ځينې پوښتنې مطرح کړي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۹۴ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۳ ـ درسي پلان : ۳۷] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې شعر ياد کړي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۳۰

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۹۴ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې يوه ډله زده کوونکي د دهقان د دندو او بله ډله دې د دهقانی د ګټو په باب خپل معلومات وليکي .

د کتاب مخونه	: ۹۵ ــ ۹۶
عنوان	: ماشينونه
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای شي .
- د تصويرونو په باره کې کيسې جوړې او وليکلای شي .
- د کلمو اصلي شکلونه وښودلای شي .
- د کلمو متغيره / اوښتي شکلونه وښودلای شي .
- د ماشينونو د اهميت په باره کې خپل معلومات وليکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۳۱

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره له زده کوونکو څخه د ماشينونو او تخنيک په اړه يو لړ پوښتنې وکړي ؛ مثلاً : جامې / کالي په لاس ژر ګندل کېږي يا په ماشين ؟ کوم ډول تخنيکي وسيلې / ماشينونه پېژنئ ؟ د ماشينونو په واسطه ډېر حاصل لاس ته راځي او که د لاسونو په واسطه؟ ماشينونو مور ته د ژوند په مختلفو برخو کې کومې اسانتياوې برابرې کړې دي ؟

- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۹۵ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۱۳] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنۍ کار : زده کوونکي دې د کورنۍ له غړو څخه د ځینو تخنیکي وسیلو نومونه لست کړي .

۲ـ درسي پلان : ۱۳۲

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاو کې دې بښوونکی ، د کورنیو کارونو له کتلو سره سره ، د بحث له پاره دکتاب د ۹۶ مخ تصویرونه زده کوونکو ته ور وښیي .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۹۶ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۲ـ درسي پلان : ۱۴] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنۍ کار : زده کوونکي دې دماشینونو د ګټو په باب یو پاراګرافونه ولیکي .

۳ـ درسي پلان : ۱۳۳

د تدریس طریقه :

- په لومړي پړاوکې بښوونکی کورني کارونه ګوري او ځینې زده کوونکي خپل لیکي پاراګرافونه لولي .
- په دوهم پړاو کې دکتاب د ۹۵ ــ ۹۶ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي په ډلو د ۹۶ مخ د تصویرونو په باره کې کیسې جوړې او ولیکي .

د کتاب مخ	: ۹۷ ــ ۹۸
عنوان	: امانتداري
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي باید :

- متن ولوستلای او مطلب یې په خپله ژبه وویلای شي .
- دکلمو په مرسته نیمړې جملې بشپړې کړای شي .
- خاص نومونه وښودلای شي .
- دامانت او امانتداری د مفهوم په باره کې خپلې تجربې وویلای اوولیکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۳۴

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې بنوونکی دبحث له پاره ځينې پوښتنې وکړي ؛ مثلاً : امانت څه ته وايي ؟ تاسو کله چا ته کوم شی امانت ورکړی ؟ تاسو ته چې چا کوم امانت درکړی ، ورسره مو څه کړي دي ؟ امانتداري څنګه کار دی ؟ څوك چې امانت کې خيانت کوي خلك ورته په څه سترګه ګوري ؟
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۹۷ مخ پر متن کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۲۵] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د متن پاتې برخه ولولي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۳۵

د تدريس طريقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۹۸ مخ پر متن کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان ۳۳] د درېم پړاو په شان کار وشي .

۳ ـ درسي پلان : ۱۳۶

د تدريس طريقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب ۹۷ ـ ۹۸ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په دريم پړاو کې دې زده کوونکي د امانت او امانتداری په باب لنډ ، لنډ مطلبونه وليکي .

د کتاب مخونه	: ۹۹ ـ ۱۰۰
عنوان	: ابو ريحان البيروني
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای شي .
- املا وليکلای او وروستاړي وښودلای شي .
- ارتباطي کلمې وښودلای شي .
- دهېواد د علمي شخصيتونو په باره کې خپل معلومات وليکلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۳۷

د تدريس طريقه :

- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۹۹ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۸۵] ددرېم پړاو په شان کار وشي .

کورنۍ کار : زده کوونکي دې په دې باره کې چې ځيرك اوهوښيار کسان څه صفتونه لري ، څو جملې وليکي .

۲ ـ درسي پلان : ۱۳۸

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی کورنۍ کارونه ګوري او څو تنه زده کوونکي د هوښيارو او ځيرکو خلکو په باره کې خپلې تجربې وايي .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۱۰۰ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۲ـ درسي پلان : ۷۱] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنۍ کار : زده کوونکي دې د خپلې خوښې د علمي شخصيتونو په باره کې واړه واړه مطلبونه وليکي .

۳ ـ درسي پلان : ۱۳۹

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی کورنۍ کارونه ګوري او څو تنه خپل ليکي مطلبونه لولي .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب د ۹۹ ـ ۱۰۰ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د ډلو ستازو ته دنده ورکړ شي چې خپلو ډلو ته له متن څخه يو يو پراګراف د املا په ډول ووايي .

د کتاب مخونه	: ۱۰۱
عنوان	: ښه کار
د درسونو شمېر	: ۲
هدفونه	: زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه وويلای شي
- په متن کې د راغلې کيسې لنډيز وليکلای شي .
- ناسمې جملې سمې کړای شي .
- د ښه کار يا ښه کولو په باره کې خپلې تجربې وويلای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۴۰

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د ښه کار په باره کې د بحث له پاره ځينې پوښتنې مطرح کړي .
- په دوهم پړاو کې دې د کتاب د ۱۰۱ مخ پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۷۰] د درېم پړاو په شان کار وشي .
- په څلورم پړاو کې دې ښوونکی د درس د ارزيابۍ له پاره په ځينو زده کوونکو د متن ځينې برخې ولولي اود کيسې او يا له هغې څخه د اخيستل شوي پند په باب دې پوښتنې وکړي .

کورنی کار : زده کوونکي دې کيسه يادە کړي .

۲ـ درسي پلان : ۱۴۱

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په متن کې راغلې کيسه له يادە ووايي / وکړي .
- په دوهم پړاو کې دې د ۱۰۱ مخ پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې زده کوونکي د کيسې لنډيز په خپله ژبه وليکي .

د کتاب مخونه	: ۱۰۲ ـ ۱۰۳
عنوان	: د چاپېريال پاکوالی
د درسونو شمېر	: ۳
هدفونه	: زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای اومطلب يې په خپله ژبه وويلای شي .
- املا وليکلای شي .
- ذيروح او غير ذيروح نومونه وښودلای شي .
- د نومونو جمع او مفرد وښودلای شي .
- دچاپېريال د پاکوالي د اهميت په باره کې خپلې تجربې بيان کړای شي .

۱ ـ درسي پلان : ۱۴۲

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د بحث له پاره پرتوره تخته وليکي : "پاکوالی دايمان برخه ده ."

او بيا دې له زده کوونکو څخه وغواي چې په دې باره يې بحث / خبرې وکړي .

- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب له ۱۰۲ مخ څخه د ۱۰۳ مخ ترلومړي پاراګراف پورې پر متن کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د زده کونکو پر ډلو يوبو پراګراف املا کار وشي .

۲ـ درسي پلان : ۱۴۳

د تدريس طريقه :

- تر چمتووالي وروسته په دوهم پړاو کې دې د کتاب ۱۰۳ مخ د متن پر پاتې برخې کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ـ درسي پلان : ۹] د درېم پړاو په شان کار وشي .

کورنی کار : زده کوونکي دې د کور ، کلي او کوڅو د پاکوالي د ګټو په باب مقالې وليکي .

۳ـ درسي پلان : ۱۴۴

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې ښوونکی کورنې کارونه ګوري . دوه يا درې زده کوونکي خپلې مقالې لولي .
- په دوهم پړاو کې دې د درسي کتاب ۱۰۲ ـ ۱۰۳ مخونو پر متن تکراراً کار وشي .
- په درېم پړاو کې دې د [۱ ـ درسي پلان : ۳۱] د درېم پړاو په شان کار وشي .

د کتاب مخونه : ۱۰۴ ـ ۱۰۵

عنوان : د نظر تېروتنه

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن ولوستلای او مطلب يې په خپله ژبه ووياى شي .
- د تصويرونو په باره کې خبرې وکولای او املا وليکلای شي .
- متضادې او مترادفې کلمې او امري فعلونه وښودلای شي .
- د نظر د تېروتنې په باره کې خپلې تجربې وشي .

۱ـ درسي پلان: ۱۴۵

د تدريس طريقه :

- په لومړي پړاو کې دې ښوونکی د درسي کتاب د ۱۰۴ مخ تصويرونه زده کوونکو ته ور وربنيي چې

	- ښوونکی بیا وایي : زمونږ ننني درس هم یوه دعا ده . راځئ وګورو چې په دې دعا کې له الله تعالی څخه څه غوښتل شوي دي .	
۲ پر متن کار کول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د درسي کتاب [۱] مخ د خپل څنګ له ملګري سره (دوه په دوه) او په ډېر ټیټ آواز ولولي ؛ هغه کلمې په نښه کړي چې په معنا یې نه پوهېږي . - زده کوونکي متن په پټه خوله لولي . هغه کلمې عبارتونه او جملې په نښه کوي چې په معنا یې نه پوهېږي . - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې یو یو تن په نوبت سره تورې تختې ته ورشي او هغه کلمې ولیکي چې دوی پرې پوهېدلي نه دي . - زده کوونکی / ښوونکی له تورې تختې څخه یوه یوه کلمه لولي او تر څنګ یې معنا لیکي . - په دې ترڅ کې، که زده کوونکي وغواړي ، کلمې او معناګانې یې له تورې تختې څخه خپلو کتابچو ته نقلوي . - ښوونکی له زده کونکو څخه غواړي چې په خپله خوښه په نوبت سره یو یو پاراګراف په مناسب لوړ آواز ولولي . - ښوونکی یو ځل ټول متن په نښه ، روانه او مناسبه لهجه لولي . - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره یوه یوه / دوه دوه جملې په مناسب لوړ آواز ولولي ، معنا او مفهوم یې ووایي . - ښوونکی له یوه داوطلب زده کوونکي څخه غواړي چې د لوستل شوي متن مفهوم په خپله ژبه ووایي .	درسي کتاب تخته تباشیر کتابچې

gtz
BEFARe.

د ښوونکي لارښود

د پنځم ټولګي پښتو

بیفیر

د افغان مهاجرو له پاره اساسي زده کړي

gtz
B E F A Re

د تدريس لارښود

پښتو

د پنځم ټولګي له پاره

بيفير

د افغان مهاجرو له پاره اساسي زده کړې

Title of the book :
Teacher's Guide
Pashto, Grade V
(Revised Version)

Authors:
Nurul Habib Nisar
S. Mohayuddin Hashemi

Editorial Board :
Prof . Dr. M . R . Elham
Assistant Prof. M. Nasim Qasimi

Composer :
Noor Mohammad Noor

Publisher :
GTZ – BEFARe
Production & Publication Section

No. of Copies : 500
Fifth Edition March, 2002

د کتاب نوم :
د تدریس لارښود
پښتو ، د پنځم ټولګي له پاره
(تجدید شوي نسخه)

مولفان :
نور الحبیب نثار
سید محی الدین هاشمي

کتونکي ډله :
پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام
پوهنیار محمد نسیم قسیمي

کمپوزر :
نور محمد نور

خپروونکی :
جي . تي . زیډ – بیفیر
د تألیف او خپرونو څانګه

تیراژ : ۵۰۰
پنځم چاپ حمل ، ۱۳۸۱

بسم الله الرحمن الرحيم

یادونه

د تېرو ټولګیو د پښتو د درسي کتابونو د تدریس له پاره ، بیفیر ، د ښوونکي مفصل لارښودونه لیکلي دي او همدې هدف ته د رسېدو له پاره یې کال په کال تعلیمي او تربیوي سمیناروونه هم دایر کړي دي . د سمیناروونو د نتیجو او د ښوونکو د کار د سوابقو په پام کې نیولو سره پرېکړه وشوه چې د پنځم ټولګي د پښتو د تدریس له پاره دې یو مختصر لارښود تیار شي .

د لارښود د اختصار او لنډون اصلي هدف دا دی چې ښوونکی په مشابه درسونو کې د پخوانیو درسي پلانونو له پرتسیبونو او قاعدو څخه کار واخلي او ورسره ورسره د زده کوونکو رواني ،اجتماعي او محیطي شرایط او غوښتنې هم په نظر کې ونیسي .

په بل عبارت ، دا لارښود د ښوونکي له پاره ، زیاتره ، دیوه نمونه یې ماخذ او مرجع حیثیت لري ، د دې لارښود په سر کې د درسي کتاب او درسي پلانونو په باره کې تقریباً ټولې عمومي خبرې راغلي دي چې له ښوونکي سره د تدریس په وخت کې د هغه د تجربو ، روشونو او معلوماتو په تنظیمولو کې مرسته کوي .

مور فکر کوو چې ښوونکو د بیفیر د درسي موادو د تطبیق په ساحه کې د تېرو کلونو په ترڅ کې پوره تجربه تر لاسه کړې ده او سر بېره پر دې ، د پنځم ټولګي د پښتو د تدریس د میتود په ښوونیزو او روزنیزو سمیناروونو کې یې ګډون هم کړی دی . امید دی چې ښوونکي به دخپلې پوهې ، تجربې او نوښتونو په مرسته د دې کتاب د تدریس له پاره په زړه پورې درسي پلانونه برابر او تطبیق کړای شي .

د دې له پاره چې پر دغه میتود او محتوا د یوه مختصر لارښود لیکل د بیفیر د پروژې لومړنی هڅه ده ، نو خامخا به ځینې نمګړتیا ګاڼي لري ، له دې امله له ښاغلو ښوونکو او نظارت کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې لارښود او همدارنګه د پښتو درسي کتاب د بیا کتنې او چاپ له پاره خپلې رغنده او ارزښتناکې نظریې د جي ، ټي . زیډ ـ بیفیر د تالیف او خپرونې څانګې ته راولیږي .

پوهاند ډاکټر محمدّ رحیم الهام
د تالیف او خپرونو د څانګې مشر